رومیه

۱۰ ګڼه - رمضان ۱٤۳۸ هـ - PS

په ختیځه آسیا کې جهاد

ای موحدینو؛ زیـری واورئ؛ پـه الله عزوجـل قسـم! مونږ بـه کلـه هـم د خپـل جهـاد څخـه دمـه ونکړو؛ مگـر د رومیـه د زیتونــو د ونــو لاندې

ابو حمزه المهاجر ﷺ

۱۰ گڼه – رمضان ۱۴۳۸ه

فهرس







PRESENTED BY ALHAYAT



الحياة خپرندويه اداره

SHA'BAN 1438 | شعبان ١٤٣٨

د اسلامي دولت له ولايتونو څخه د ياد وړ ويډيو ګانې

FEATURED VIDEOS

FROM THE WILAYAT OF THE ISLAMIC STATE



WE WILL SURELY GUIDE THEM TO OUR WAYS

مونږ به ورته خپلې لارې وښايو



نينوا ولايت



ANSWER THE CALL

غږته لبيک وواياست



الخير ولايت



STRATEGY OF WAR

جنګي زيرکتيا



صلاح الدين ولايت


الله عزوجل ورته له
داسې ځایه راتګ وکړ
چې د دوی په ګمان
کې هم نه وه

الله سبحانه وتعالی فرمايي: {هُوَ الَّذِي أَخْرَجَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مِنْ دِيَارِهِمْ لِأَوَّلِ الْحَشْرِ مَا ظَنَنْتُمْ أَنْ يَخْرُجُوا وَظَنُّوا أَنَّهُمْ مَانِعَتُهُمْ حُصُونُهُمْ مِنَ اللَّهِ فَأَتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوا وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبَ} [الحشر٢]، الله عزوجل هغه ذات دی چې کافر اهل کتاب يې د لومړي ځل لپاره د محشر خاورې ته وشړل، تاسو ګمان نه کاوه چې دوی به ووځي او د دوی هم ګمان و چې د دوی کلاګانې به دوی د الله عزوجل څخه خوندي کړي، خو الله عزوجل دوی ته له داسې خوا څخه راتګ وکړ چې د دوی په ګمان کې هم نه وه او د دوی په زړونو کې يې رعب واچاوه.

د رمضان المبارک د پيل کيدو نه يوه هفته وړاندې د ټولې نړۍ سترګې د برتانيه د مانچستر ښار په لور هغه مهال ستنې شوې چې کله د عادلانه ترهګرۍ د عملياتو په لړۍ کې د خلافت يو غازي خپل عمليات ترسره کړل، په دغو مبارکو عملياتو کې د مانچستر د آرينا د نڅا هغه کانسرت په نښه کړی شو چې يوې امريکايي ډمې پکې د موسيقي پروګرام درلود، د دغې عملياتو چاودنې ټول ښار په لړزه کړ او د اوسيدونکو زړونه يې له ويرې او رعب ډک کړل، ټول خلک په ډيره تندۍ د کنسرت په لور د ويرې په حال کې ولاړل ترڅو د خپلو دوستانو او خپلوانو سره اړيکه ونيسي او د سلامتيا څخه يې ځان ډاډه کړي، له دې وروسته د قربانيانو لسته په راښکاره کيدو شوه؛ د شلو نه زيات مړه او په لسګونو نور ټپيان؛ چې په مجموع کې ترسلو صليبيان مردار او ټپيان شول.

د چاودنې وروسته ويرې اخيستو خپلوانو او ترهې نيوليو دوستانو ټولنيزه رسنيو ته مخه کړه ترڅو د خپلو دوستانو په لټه کې د خلکو مرسته ترلاسه کړي، محلي شرابخانې د شرابو په بوتلو ډکې کړی شوې، ترڅو د بيړنيو چارو کارمندان د دغو زړه بوګنوونکو سحنو د ليدلو څخه خپل عقلونه خلاص کړي؛ د برتانيې ځان ته «مسلمان» ويونکي اتباع هم د خپل عادت سره سم راښکاره شول خپل فرياد يې ښکاره کوو ترڅو ترې صليبيان خپل غږ وانښلي، په کوڅو او واټونو کې په لويه کچه پوليس او ځواکونه خپاره شول؛ په متحده مملکت برتانيه کې د ګواښ کچه «ډيرزيات خطرناک» ته ورسيده، سياسي مشرانو د راتلونکو انتخاباتو لپاره خپل کمپاينونه ودرول، امريکايي ډمې هم د اروپا څخه خپله دوره لنډه کړه او په مات زړه د ډيرتشويش سره بيرته خپل ټاټوبي ته ستنه شوه، د چيلي د فټ بال کلب هم په لندن کې د خپلې بريا لاريون لغوکړ، د اسلام دښمنانو کوښښ وکړ چې په جرات مند مخ راښکاره شي، خو ټول کوښښونه يې بې ګټې شول ځکه چې درد يې هرچاته په ډاګه و.

په نړيواله کچه داسې ښکاره شوه چې د مانچستر عملياتو د هغو څيړونکو وينا ريښتيا کړه چې ويل به يې: اسلامي دولت چې په عراق او شام کې د خپلې خاورې کومه برخه د لاسه ورکړي نو بيا به د صليبيانو په خاوره په خپلو عملياتو کې تندي راولي، خو هغه څه چې دغو څيړونکو پرې اعتراف ونه کړ هغه دا وه چې ځمکه د لاسه ورکول د اسلامي دولت په تاريخ کې کومه لومړۍ پيښه نه ده، ځکه په عراق کې د مرتدو صحواتو د پيل نه وروسته د اسلامي دولت زياتره خاوره د لاسه وتل د اسلامي دولت په ماتې بدل نه شول، بلکې خپل ځواک يې راجمع کړ، خپل کوښښ يې دوه برابره زيات کړ او د نوي سره يې د جنګ لمبې بلې کړې؛ هغه ټوله خاوره يې بيا ترلاسه کړه چې د لاسه يې ورکړې وه؛ او بيا شام، سيناء، خراسان او په نړۍ کې نورو داسې سيمو ته وغزيد چې مجاهدينو يې توقع هم نه درلوده چې دلته به ولکه او د الله عزوجل حکم قايم شي.

ځکه خو په ناڅاپي ډول - د مانچستر څخه په زرګونو ميله لرې- چيرته چې د ختيځې آسيا د فليپين د ميندناو ټاپو ماراوي ښار ته د خلافت غازيان ننوتل، مجاهدينو محلي پوليس او پوځ له ښاره تيښتې ته اړ کړ او د اسلامي دولت بيرغونه يې پرې پورته کړل، کټ مټ داسې منظر و لکه چې د موصل د فتح په ورځ ترسره شوی و؛ چيرته چې مجاهدينو رافضي مرتدين او د هغوی صليبي حليفان له خاره تيښتې ته اړ کړي وو، دغه فتح په داسې مهال کې راغله چې څو اونۍ مخکې د فليپين صليبي طاغوت رودريګو دوتيرتې څرګندونې کولې چې د فليپين په جنوب کې وضعې هغه ته سر دردی جوړ کړی او د شپې خوبونه يې ترې اخيستي دي.

کله چې دغه طاغوت د واک واګې په لاس کې واخيستې نو ويل به يې چې په سيمه او په ځانګړې توګه په ميندناو ټاپو کې «د مسلمانو وسلوالو» سره د خبرو اترو توان لري، چې بيا به په فليپين کې ميشت امريکايي ځواکونه هم له سيمې ځي، خو کله چې د خلافت غازيانو بار بار ثابته کړه چې دوی يواځې په مرميو او ماينونو خبرې اترې کوي نو طاغوت د جنوب په سيمه ييزو مسلمان ميشته سيمو کې وګرځيد ترڅو ورسره د مجاهدينو پر خلاف مرسته وکړي او ګواښ يې وکړ که مشکل حل نه شو نو عرفي قانون به پلی کړي، بيا چې کله مجاهدينو په ماراوي ښار يرغل وکړ نو طاغوت خپله وعده پوره کړه او عرفي قانون يې پلی کړ؛ خپل لسګونه زره پوځيان يې سيمې ته واستول، ترڅو د ښار واک بيا ترلاسه کړي، خو مجاهدينو په لسګونو صليبي پوځيان ووژل او په کفارو يې يوه نوې جبهه خلاصه کړه.

د دې دعوا باوجود چې د اسلامي دولت ځواک کمزوری شوی خو هغه تريخ حقيقت چې نن ورځ ورسره صليبيان مخ دي هغه؛ د خلافت د غازيانو په دې توانيدل دي چې صليبيان او د هغوی ګوډاګيان په ناڅاپي ډول له يوې سيمې وشړي او هلته واکمني ترلاسه کړي، خو دا چې له کومه راځي؟ نو دښمن يې په دې نه دی پوه چې اوس به د نړۍ په کوم ګوډ کې د خلافت غازيان راښکاره کيږي!! لکه مخکې چې يې د موصل په ښار کې وکړل، د دې ترڅنګ د خلافت غازيان هروخت صليبيان په خپلو کورونو کې په ناڅاپي ډول؛ ناګهانه وهي، لکه چې په مانچستر کې يې وکړل، نو لکه څرنګه چې يې په لومړي ځل د صليبيان حشر د عراق له خاورې کړی و په همدغې ډول به په فليپين کې د مسلمانانو له خاورې هم صليبيان وشړي او د صليبيانو د کور په منځ کې به د دوی په زړونو کې رعب واچوي، {وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَى أَمْرِهِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ} [يوسف ٢١], الله عزوجل په خپل کار غالب دی خو ډير خلک نه پوهيږي.

په پیغمبرانو هم دغه ډول مشکلات او ازمویني راځي

خو بیا انجام د همدوی په برخه وي

دریمه برخه

ابو مصعب الزرقاوي تقبله الله

په تیر پسې....

د دغـو حقائقـو پیژندلـو وروسـته؛ مونږ په هغه غوښتنه پوهیږو چې د فلوجې د جنګ د پیاوړتیا، کلک والي او په هر ډول وسائلو ترې د دفاع تر شا دي، ځکه دغه جګړه اوس د لومړني اسلام په یواځیني یو سنګر ترسره کیږي، په دغې جګړه کې په لومړیو خطونو رباط او ټینګښت دا معنا لري چې مونږ په هغه لومړي سنګر ټینګ یو، په کوم چې مونږ د کفر او زیاتي مقابله کوو.

د ښار مینځ ته د دښمن راننوتل یا په ښار کې ګزمې کول او په اطرافو کې یې پوستې او سنګرونه جوړول دا معنا نه لري چې دښمن خپل هدف تر لاسه کړ، بلکې زمونږ جګړه د دښمن سره د واټونو او کوڅو جګړه ده چې هر مهال یې تکتیک او طریقه د یرغل او دفاع پر مهال بدلیږي، د سختو خونړیو جګړو نتیجه په څو ورځو او اونیو کې نه په ډاګه کیږي، بلکې خپل وخت اخلي ترڅو د یو طرف په برخه د کامیابۍ اعلان وشي.

د نتیجې څخه مخکې دا زمونږ لپاره کافي ده چې زمونږ سترګې یې د اسلام د بچو په لیدلو یخې کړې؛ چیرته چې هغوی د فلوجې په مبارکو خطونو د پیاوړو غرونو په څیر مضبوط ولاړ دي او خپل امت ته په سختۍ، صبر او یقین کې نوي درسونه ورکوي.

د دغې مضبوطې جګړې څخه د ځینو نتائجو تذکره په لاندې ډول ده:

لومړی: د فلوجې جګړې یو ځل بیا د عزت، کرامت او غیرت معناوې راژوندۍ کړې؛ امت اوس دې یقین ته ورسید چې هلته په فلوجه کې د امت یو شمیر بچې په جنګ بوخت دي او د هر ډول تورتم او مشکلاتو مقابله په هرډول جرأت، ثبات او عزم سره کوي، او دا چې دغې وړې ډلګۍ د خپل امت سره په خپلو پلانونو او پروژو کې ریښتینولي وکړه، هغه پروژې چې د امت د یوځل بیا راژوندي کیدو لپاره په کار اچول شوي او دغو غازیانو په دغو پلانونو سرته رسولو کې خپلې او د خپلو مشرانو وینې نذرانه کړې.

دویم: که څه هم دا چې امت د ذلت او انکسار سره مخ دې خو دا خبره یې زده کړه چې امت کولی شي د خپلو بچو په یوه وړه ډلګۍ د ټولې نړۍ بادشاهانو او طواغیتو سره مقابله وکړي، هغه هم په سپکه وسله...دغه باتوره ډلګۍ کولی شي چې خپل دښمن ته درانه دردونکي تلفات واړوي او هغه د ماتې په تریخ جام څښولو مجبور کړي.

دریم: د فلوجې جګړې د جنګ ځمکه پراخه کړه، د عراق په داخل او خارج کې د اسلام د بچو همتونه راویښ شول، خپلې وینې یې د جهاد د قیمت په انځور کې د دغې نړیوالې صلیبي حملې په مقابل کې توی کړې او دغه پاکې وینې بیا په دغې خاوره توی شوې ترڅو نور خلک د جهاد لپاره له کوره را بهر شي، د عراقي خاورې په مختلفو برخو کې د جګړو اور ولړید، لواء ګانې، کنډکونه او ډلګۍ ترتیب



امریکایانو د فلوجې په جګړه کې په سلګونو پوځیان د لاسه ورکړي وو

شوې، مجاهدین اوس د دښمن د قطارونو مخې ته راوځي او په ګزمو یې خونړي یرغلونه کوي، مونږ ګورو چې د ښمن د الله عزوجل په فضل په عراق په خاوره د لوی او درونډ تاوان سره مخ دی، د دې جګړې د فخر یوه بیلګه دا هم وه چې مجاهدین زړور شول او د دښمن د هر ډول وسلو په اړه وهمې کیسې ماتې شوې، نن د مجاهدینو نفسونه د هر ډول کمزورۍ او ویرې له وهمه ازاد شول او د کوښښ او کار میدانونو ته یې مخه ده.

ځلورم: د فلوجې جنګ ستري ،مهمې نظامي او ستراتیژیکې کامیابۍ ترلاسه کړې، ځکه ټول په دې پوه دي چې امریکایي نظامي آلات او د هغوی پرمختللې پوځونه او جنګي نظام، چې کولی شي له لرې یوه سیمه په نښه کړي او هیڅ ډول خپل پوځیان له دښمن سره مخامخ نه کړي، چې په دې سره هغوی د خپل امریکایي پوځي سلامتیا غواړي او په جنګ د هغه روح د لاسه وتل خوندي کول غواړي، خو د فلوجې جګړې دغه لویه نظامي پروژه په تدریج سره راکښ کړه، د واټونو او کوڅو سخت غیر منظم جنګ پیل شو چې د امریکایي ځواک، کوښښ، طاقت او وسائل پکې د اور خوراک کېږي، اوس امریکایي پوځ د مرګ سره مخامخ دی او

هیڅ ورته معلومات نه کېږي چې له کومه راته مرګ راځي، نن امریکایي ځواکونه کوڅو او لارو ته په کوځیدو مجبور دي، کورونو او ودانیو ته په ننوتلو مجبوردي، اوس مجاهدینو ته نن خپل دښمن ښکاره شو د هغوی د کمینونو او ناڅاپي یرغلونو او خرپ او ترپ جنګ په داسې انداز روان دی چې دښمن ورته ګوته په غاښ دی، امریکایي ځواکونه نن په داسې جنګ کې اخته دي چې مخکې یې د هغه هیڅ ډول بیلګه نه وه لیدلې خواوس یې په دغه جنګ کې یې ډیر لوی مالي او ځاني تلفات وځکل ، نن یې د مړو شمیره د لسګونو او سلګونو څخه واوښته.

پنځم: امریکایي نظامي اداره د لوی نفسي ماتې سره مخ ده، ځکه د فلوجې دجنګ پلان جوړونکو ته نن دا خبره په ډاګه شوه چې مجاهدین په هیڅ ډول موانعو ، بندونو او تعذیبونو نه منعه کیږي، اګر که په ډله ییز ډول ووژل شي او ټول له بیخه ختم شي، نو اوس جهادي فکره د امریکا د نړیوال پلان پرخلاف یو لوی خنډ دی، په فلوجه کې چې د ثبات او فخر کوم څه پیښ شول هغې د امریکایي جنګ سالارانو نفسیات ډیر کمزوري کړل، هغوی ته یې سخت خفګان او سټرتیا ور واړوله او معنوي وارخطایي یې ور په برخه کړه او راتلونکي حالات به د الله عزوجل په مرسته نور هم سخت او تراخه وي.

شپږم: د فلوجې جګړې په خپل ثبات او د صبر د ملنې په نیولو سره د ارتداد، نفاق او ګوډاګیتوب له مخونو پردې پورته کړې، او د علاوي مرتد حکومت هغه د شرم پرتوګ یې ښکته کړ چې دوی پرې خپل عورت پټ کړی و، د هغوی هغه باطله چیغه رسوا شوه چې مرتد حکومت یې رمباړې وهي، چې ګواکې موږ د عراقي ملت مصلحت غواړو او د هغوی وینې خوندي کوو، د جنګونو او مشکلاتو څخه خپل ملت ساتو، خو بل لوري ته خلک په سر سترګو ګوري چې دغه مرتدین د فلوجې د جنګ پریکړه پلې کوي، خپل لاس د ښار د مسلمانانو په پاکونو وینو کې لړي، په زرګونو وژني او په لسګونو زره نور له سیمې شړي او د ښار په تخریب، ویجاړولو، د ناموسونو په لوټ کولو او د مالونو د چور له پروګرامه څارنه کوي او دغه هرڅه د ترهګرۍ او ملي ګټو د خوندي کولو تر نامه

لاندې کوي.

اووم: دغې جګړې د رافضي تباه شوي ګند څخه هم پرده پورته کړه، ځکه روافضو په دغې جګړه کې ډېر لاس منډلی او د زنديقيت دامام سيستاني په امر يې په دغې جګړه کې شرکت کړی، د روافضو په قتل، چور او تخريبي عملياتو کې هم لوی لاس دی، د بې وسلې، کوچنيانو، ښځو او بوډاګانو په وژلو کې هم د دوی لاس دی، بلکې له دې هم يو قدم مخکې ولاړل، د الله عزوجل په کورونو چاپې وهې هغه په خپلو ناپاکو قدمونو چټلوي او د مسجدونو په ديوالونو د شيطان سيستاني تصويران لګوي او د ډېرې کينې سره پرې دغه ليکنه کندي چې (نن زمونږ د پښو لاندې ستاسې خاوره او سبا ستاسې ناموس).

د ياداشت لپاره بايد ووايم، د عراقي ملي پوځ ٩٠٪ نوی سلنه رافضي کينه ناک دي او ١٠٪ سلنه پيشمرګه کردي جنګيالي دي.

علماؤ د روافضو په اړه څه ښه خبره کړې چې وايي: (دوی نصراني تخم دی، په مجوسي خاوره کې، يهودانو نال کړی دی)

اتم: په دې جګړه کې د دښمنانو شاتنې خطونه هم په ډاګه شول، ځکه په دې جګړه کې د يو شمېر روستنيو ليکو برخه مندي هم په ډاګه شوه، دا په ډاګه شوه چې په دې جګړه کې ٨٠٠ اسرائيلي پوځيانو برخه اخيستې، ١٨ يې يهودي ملايان و، چې زياتره يې مردار شوي او دغه خبره د هغوی په رسنيزه خپرندويه پاڼو او اخبارونو کې هم راغلې ده، همدا ډول د اردني ضابطانو نظامي ګډون هم په ډاګه شو، ځکه دغو ضابطانو د ښار په يرغل او پلان کې حصه درلوده، دغه ټول په دې دلالت کوي چې فلوجه اوس د جهاد يو مرکز دی او د ټولو کفارو او مرتدينو او د دين د ټولو دښمنانو شپې يې نا ارامه کړې دي.

نهم: د دغې سرلوړې جګړې په نتائجو کې دا خبره هم ده چې؛ د جهادي زلمو په رګونو کې يوځل بيا وينې راتازه شوې، د خپل جهادي کار په پرمختګ او خپل مرسوم هدف ته په رسولو يې حرص او عزم زيات شو، دغې جګړې د جنګي قومندانانو يو نوی نسل ورزوه، چې نوې تجربې او ځواکونه لري چې دغه په يوه روښانه پيښه تعبيريدی شي، دوی په خپلو تجربو، کارونو او لاسته راړونو کې په پوره عزم او ژور فکر سوچ کوي او په رسم شوې لاره کې په پوهه او هوښياری قدم ږدي، دغه تنګي جنګي اتلان د جنګونو سختو اوړونو پاخه کړي او په يو مضبوط قالب کې يې راويستي دي.

د «الظلال» مولف وايي: « د جهاد في سبيل الله د سختيو په ليدلو او مرګ ته د ځان ورمخامخ کولو په هر چکر کې انساني نفس ته د مرګ خطر سپکيږي، هغه خطر چې د خلکو په نفسونو، اخلاقو او ارزښتونو کې ډېر دروند وزن لري، هرڅه په کار اچوي ترڅو له دغه خطره ځان وساتي، خو د مرګ سره دغه ملاقات په هغه چا ډېر زيات اسان دی چې دې ورمخه کړي او په ملاقات يې روږدی شي، که بيا پکې روغ پاتې شو او که ورسره غاړې غړی شو، ځکه الله عزوجل ته هر ځل مخه کول په نفس باندې د خطر پر مهال په تصور کې داسې يو حالت راولي لکه د بريښنا چپه، چې د انسان په بدن کې چليږي، ګويا د انسان زړه او روح بيا له سره جوړيږي او نور هم صفا، پاک او اصلاح کيږي، د دې ترڅنګه دغه د بشري ټولنې د اصلاح لپاره پوره اسباب دي.. چې د بشريت واک د يو مجاهد په لاس کې وي، هغه ځوک چې زړونه يې د دنيا له هر ډول اعراضو څخه پاک شوي، ژوند ورته سپک ښکاره شوی، هغوی د الله عزوجل په لاره کې د مرګ غيږې ته دانګي او په زړونو کې داسې څه نه لري چې د الله عزوجل او د هغه د رضا څخه يې ستانه کړي، کله چې مشري په دغې شان پاکو لاسونو کې وي، نو ټوله ځمکه او ټول بندګان به د اصلاح په لور روان وي او ډېر به مشکل وي چې دغه سپيځلي لاسونه بيا بيرغ کفر، ګمراهی او فساد ته وسپاري، ځکه چې دغو لاسونو بيرغ په خپلو روحونو او وينو ترلاسه کړی، په


د هغوی پرمخ تللي وسائل په کباړ بدل شول



صلیبیانو ته د فلوجې په جگړه کې سخت درسونه زده کړل

دغه لاره کې یې خپل هر ډول قیمتي شیان په کمه بیه پلورلي او دغه بیرغ یې پرې اخیستی؛ د خپل نفس لپاره نه بلکې د الله عزوجل لپاره، له دې ټولو وروسته بیا د الله عزوجل لخوا د هغه چا لپاره اساني پیدا کیدل وي چې الله عزوجل ورته د نیکۍ اراده کړې وي، ترڅو هغوی د الله عزوجل رضا حاصله کړي او بې له حسابه جنت ته ولاړ شي او هم هغه چا ته د لاړې اسانول وي چې الله عزوجل پرې د بدۍ اراده کړې وي ترڅو د هغه دغضب مستحق شي چې الله عزوجل یې په خپل علم د هغوی په نفسونو کې اسباب گوري» د الظلال د مصنف خبره پای ته ورسیده.

لسم: د شهادت لپاره غوره کول؛ د مومنانو دغې ډلې ته دا شرافت حاصل شوی چې د دوی لاره د دوی د شهیدانو بچو په وینو رسم شوې او د دوی لوی مشران او تجربه کار خلک په لومړیو لیکو کې ولاړ دي، که دغه خبره په څه دلالت کوي نو هغه دا خبره ده چې د دې جهاد بچي ترټولو صادقان دي، د هغوی همتونه او هوډونه د عقیدې او توحید د مطالبو په لاسته راوړلو کې په پوره بې دردۍ منډې وهي، د دوی لپاره بل زیری دا دی چې الله عزوجل د دوی مشران، تجربه کار او نیکان خلک د خپل ملاقات لپاره غوره کړل، د هغوی لپاره یې شهادت او د هغه تعالی په رضا کامیابیدل ولیکل، هغه څه چې دوی یې غوښتنه کوله، نو د دوی لپاره یې وعده پوره کړله او غوښتنه یې ور ومنله.

ته د دې مجاهدینو سلفو ته وگوره چې د شهادت په مرگ دومره حرص لري څومره چې وروستني په ژوند حرص لري، څکه د سلف صالحینو او صحابه کرامو لوړه آرزو دا وه چې هغوی به د جنگ میدان ته د شهادت في سبیل الله په محبت کې منډې وهلې، همدغه لامل دی چې په مجموعي ډول د لومړۍ پیړۍ د جنگونو په شهیدانو کې دصحابه کرامو احصائیه ۸۰٪ اټیا سلنه ده.

د یمامې په جگړه کې د مهاجرینو او انصارو د شهیدانو احصائیه د نیمې نه زیاته وه... زمونږ لپاره دا هم کافي ده چې د دغه جنگ د قاریانو شهیدانو شمیره ذکر کړو، څکه د یمامې په جنگ کې ۳۰۰ د قرآن قاریان شهیدان شوي او په یو روایت کې ۵۰۰ تنه ذکر شوي، یعنې د یو روایت مطابق یواځې قاریان د ټولو شهیدانو مجموع ۲۵٪ یا د بل روایت مطابق ۴۵٪ وه، چې دغه ډیره لوړه احصائیه ده.

که مونږ په کتابونو او تاریخي مصادرو کې د صحابه کرامو رضي الله عنهم په اړه څیړنه کوو نو مونږ ته به دا په ډاگه شي چې په صحابه کرامو کې په هرو پنځو کسانو کې یو په خپله بستره مړ دی او پاتې څلور یې د جهاد په میدانونو کې شهیدان شوي، چې کله په دغو معلوماتو خبر شې نو بیا به د هغو فتوحاتو په اړه هیڅ حیرانتیا نه وي چې په لومړۍ پیړۍ کې په حیرانوونکې توگه منځته راغلې او هم د جنگونو په سختیو او د هغوی په ثبات.

دلته باید له یاده ونه باسو چې د خپلو اتلو مجاهدینو ثبات هم ذکر کړو او هم د هغه څه په اړه ذکر وکړو چې الله عزوجل په هغوی د کومو کراماتو احسان وکړ، چې کله هغوی د امریکایانو سره د فلوجې په جگړه بوخت وو نو د الله عزوجل مهربانۍ ترې چاپیره شوه، چې په دې سره هغوی ثابت قدمه شول او د هغوی حال راپاتې شو:

له دغو کرامتونو او الهي احساناتو څخه:

۱- د جگړې په دریمه ورځ د ښار په مختلفو ناحیو سخته بمباري وشوه، مجاهدین چې کله له خوبه راویښ شول نو د امریکایانو ټانکونه او عرادې د ښار په کوڅو او واټونو کې ولاړې وې، اتلان ورته په سخت جنگ کې راووتل چې مشري یې ابو عزام، عمر حدید، ابو ناصر اللیبي، ابو الحارث محمد



د فلوجې جګړې د روافضو د مخ څخه هغه پرده لرې کړه چې دوی پرې ځان پټاوه

جاسم العيساوي او نورو اتلانو کوله.... نو يرغلګر يې د ښار ځنډو ته وشړل او هغه هم يواځې په کلاشنکوف او پيکا ، په دغې جګړه کې ډير زيات امريکايان مردار شول، ترديې چې ځينې د جګړې نه وتښتيدل او د ځينې مسلمانانو په کورونو کې پټ شول، مجاهدين په لومړي سر کې مسلمانانو ته د ضرر نه رسولو په خاطر په دغو کورونو نه ورتلل، خو بيا چې په دې باوري شول چې دغلته امريکايان دي نو ور ننوتل، امريکايان هلته ذليله پټ شوي وو نو د مچانو په څير يې ووژل ولله الفضل والمنة.

د جګړې نه څو ورځې وروسته: بعضې مشرانو عمر حديد او ابو الحارث جاسم العيساوي ته وويل چې ږيرې وخروئ او له ښاره بهر ولاړ شئ اوله بهر څخه کار پيل کړئ، د هغوی لپار بې خطره لاره هم پيدا شوې وه، خو هغوی وويل: په الله قسم چې په ښار کې يو مهاجر هم پاتې وی مونږ به له ښاره ونه ووځو، نو تر هغې وجنګيدل چې شهيدان شول رحمهما الله وتقبلهما في عباده الشهداء.

٢- ځينې ورونه څو ورځې د سختې ولږې سره مخ شول، بيا د الله عزوجل څخه د اميد او په هغه د يقين څخه وروسته ورته يوه لويه هندوانه په لاس ورغله، کله چې يې خلاصه کړه نو ډيره خايسته سره وه، څو ورځې يې له هغې خوراک وکړ، مړيدل به او د الله عزوجل شکر به يې اداء کوو او تعجب به يې هم کوو، هغوی دا خبره وکړه چې دوی په دنيا کې دغه ډول خوند هيڅ کله نه دی څکلی او دا معلومه خبره ده چې دغه ځای او موسم د هندوانو نه و.

٣- ورونه د ډيرې زياتې تندې او ولږې سره مخ شول، ترديې چې هيڅ ډول اوبه نه وې، خبره دېته ورسيده چې د هغوی په خولو او شونډو پولۍ راوختلې ، کله چې هغوی د يو څو ځاځکو اوبو په تالاش کې ووتل نو يو کور ته ورسيدل په هغه کور کې درې چاټۍ اوبه په ډير عجيب ترتيب پرتې وې، کله چې يې دغه حالت وليد ډير تعجب يې وکړ، ځکه دغه ډول ترتيب په عراق او فلوجه کې مخکې نه و ليدل شوی؛ چې اوبه دې په دغه ډول خايسته چاټيو کې کيښودل شي، کله چې يې وڅکلې په دې پوه شول چې دغه د دنيا اوبه نه دي، ويې وڅښلې ترديې چې ماړه شول، بيا به يې قسمونه خوړل چې دوی په خپل ټول ژوند کې دغه ډول خوږې اوبه نه دي څښلي.

٤- د محمد صلی الله عليه وسلم د جزيرې يو ورور د قناص په مرمۍ ولګيد په تندي يې مرمۍ ننوته او په څټ ترې ووتله، د هغه د دماغو پوټي په ولو پريوتل، ورونو ورمنډې کړې د هغه د دماغو پوټي يې راجمع کړل او بيرته يې پر پټۍ وتړل، چې بيا څو ورځې وروسته روغ شو، اوس هم ژوندی دی هيڅ خبره نشته، مګر په ژبه کې يې لږ دروند والی دی، د الله عزوجل څخه سوال دی چې د هغه او نورو ورونو څخه دغه عمل قبول کړي.

هر چې د مشکو بوی دی او ته څه خبر يې چې مشکو بوی څه ډول وي؟!!! نو دغه خبره د زياترو مجاهدينو په نيزد يو متواتر خبر دی، ځکه د ډيرو ورونو له پرهرونو او شهيدانو څخه د مشکو بوی احساس شوی، تقبلهم الله جميعا.

له دغو واقعاتو څخه يوه: اتل ورور ابو طلحه البيحاني تقبله الله په يو ژور ټپ ټپي شو، د هغه له دغه پرهره عجيبه ښکلی بوی روان شو چې هر لوري ته خپور شو، په لارو کې هم خپور شو او ډيرو ملګرو يې احساس وکړ، ترديې چې شهيد شو- نحسبه والله حسيبه ولا نزکيه علی الله.

د اطمئنان او ثبات هڅوونکو کراماتو څخه دا هم ده: ګڼو ملګرو دغه خبره په اتفاقي ډول وکړه چې په دغې جنګ کې به کله جګړه ګرمه او سخته شوه، نو د آسونو شڼيدل او د تورو شرنګار به اوريدل کيده، ورونه له دغه کاره په تعجب کې شول چې بار بار به تکراريده، هغوی انصارو ورونو ته ولاړل چې وپوښتي؛ آيا د فلوجې سره نږدې آسونه شته؟ انصارو ورته د دې خبرې پخلی وکړ چې دغه ډول هيڅ نشته

او دغه شان اسونه د سره د فلوجې په چاپېريال کې نشته، فلله الحمد أولا وآخرا.

امام احمد په خپل مسند او حاکم په مستدرک کې د ابي بردة بن قيس چې د ابو موسى ورور دى -رضي الله عنهما- نه روايت کوي، وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: (ياالله زما د امت فنا کيدل او مرګ په توره وهلو او طاعون



امريکايي پوځيان چې مجاهدينو پرې خپلې کړنې کړې وې

کې وګرځوي).

الله عزوجل فرمايي:{وَلاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاء عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُون * فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُواْ بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلاَّ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ} [آل عمران:١٦٩-١٧٠]، ژباړه: تاسو په هغو خلکو د مړو ګمان مه کوئ چې هغوى د الله عزوجل په لار کې شهيدان شي، بلکې هغوى د خپل رب په نيږد ژوندي دي رزق ورکولى شي* په هغه څه خوشحاله دي چې الله عزوجل د خپل فضل څخه ورکړي دي او د هغه چا په اړه خوشحالي کوي او يو بل ته زيري ورکوي چې د هغوى څخه وروسته ور روان دي او تر اوسه نه دي ورغلي چې په هغوى به ويره نه وي اونه به غمجن وي.

دغه يوه کوچنى فکره وه چې د فلوجې په مبارکه خاوره د ثبات او ټينګښت نتائج پکې راجمع کړى شول او هم هغه کاميابى چې د ډير منفعت او اوږد اثر درلودونکي دي، دغه فوائد او ګټې هغه چاته معلوميږي چې انصاف کوونکى وي او په حالاتو کې فکر لري.

اى اسلامي امته: په تا باندې ټپونه او زخمونه پرلپسې زيات شول، خو ستا مرضونه او مشکلات به يواځې په هغه توحيد حل کيږي چې د جهاد په بيرغ پورې تړل شوى وي.

اى اسلامي امته؛ ته به کله دا سمه فيصله کوې چې نوره جهاد ته مخه کړي او د جلاد څخه ځان وژغوري، نن ورځ خو جنګونه هيڅ نه تم کيږي او زمونږ نبي صلى الله عليه وسلم دا خبره خوښوله چې د هيڅ لښکر څخه پاتې نشي، بلکې د هغه له سيرته دا هم وه چې هميشه به په غزا او جهاد کې و.

زه تاسو ته دلته د جبريل عليه السلام حديث يادوم چې بخاري روايت کړى: کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د خندق له غزا څخه مدينې ته راستون شو نو وسله يې کيښوده، جبريل عليه السلام ورته راغى او ويې فرمايل: « آيا تا وسله کيښوده؟ په الله قسم ملائکو تر اوسه خپله وسله نه ده ايښې، پاڅه د خپلو ملګرو سره بني قريظه ته ورشه، زه ستا څخه وړاندې ځم د هغوى کلاوى لړزوم او په زړونو کې ورته رعب اچوم، نو جبريل عليه السلام د ملائکو په کاروان کې ولاړ او رسول الله صلى الله عليه وسلم ورپسې د مهاجرينو او انصارو په کاروان کې ولاړ.

اى مسلمانانو څنګه تاسو ته سپکه خبره ښکاري چې تاسو خپل ورونه ګورئ؛ ستاسو د دين بچي چې هر ډول مشکلات پرې راغلي، عذاب، وژل او کورونه ويجاړول او تاسو په خپلو کورونو کې د خپل اهل او مالونو په منځ کې روغ ناست پاست... دا څنګه کيدى شي؟!

{وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَى أَمْرِهِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ} [يوسف: ٢١]

الله عزوجل په خپل کار غالبه دى خو زياتره خلک نه پوهيږي.

والحمد لله رب العالمين.

أَبُوْ مُصْعَبٍ الزَّرْقَاوِي

ضروري يادوني

څه وخت مخکې د اسلامي دولت لوړ رتبه کمیسیون (اللجنة المفوضه) د خلافت ټولو غازیانو ته د (لِّيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَن بَيِّنَةٍ وَيَحْيَىٰ مَنْ حَيَّ عَن بَيِّنَةٍ) ترعنوان لاندې يوه مهمه پريکړه صادره کړه.

ترڅو هلاکيدونکی په دليل هلاک شي او ژوندی پاتې کيدونکی په دليل ژوندی پاتې شي

په دغه پريکړه ليک کې د اسلامي دولت د عقيدې او منهج يوه برخه ذکر شوې او هم په هغو ويناو او مسائلو رڼا اچول شوې چې اسلامي دولت ته بې بنسټه منسوب کړی شوي، په پريکړه کې خبرداری ورکړل شوی چې په اسلامي دولت بغيرله علمه وينا څخه بايد ځان وساتل شي او هغه ويناوې او عقائد ورته منسوب نه شي چې په نسبت يې هيڅ دليل نه وي، همد راز په پريکړه کې د مشرانو او واکمنانو لپاره د نصيحت (خيرخواهی) او هم د شکاياتو د ازالې په اړه د اهل السنت والجماعت طريقه بيان شوې.

دغه پريکړه چې د (شعبان ۱۴۳۸هـ په ۲۱ نيټه د چهارشنبې په ورځ صادره شوه) په دې وضاحت سره پيل شوه چې اسلامی دولت يواځې په دې خاطرقائم شوی چې توحيد خپور کړی کړي، د اسلامي دولت دعوت د پيغمبرانو عليهم الصلاة والسلام، د دې امت د سلف صالحينو او هغه چا دعوت دی چې د دغو نيکانو په لاره تللي دي، په پريکړه کې په دې خبره ټينګار شوی چې اسلامي دولت په هغه ډول قائم شوی لکه چې د امام المجدد محمد بن عبد الوهاب التميمي رحمه الله د اتباعو د نجدي دعوت مبارک دولت قائم شوی و.

اسلامي دولت په خپله تګلاره تل پاتې دی او د لوی الله عزوجل په فضل پکې هيڅ تغيير او بدلون نه دی راغلی

په دغې پريکړې کې دا خبره هم په ډاګه شوې چې اسلامي دولت په هماغې عقيده روان دی د کومې ورځې چې شيخ ابو مصعب الزرقاوي رحمه الله او د هغه قدرمنو ورونو د دې دولت د بنسټ لومړی ډبره اېښې ده، له هغه وروسته د شيخ ابوعمر البغدادي او د هغه د وزير المهاجررحمهما الله دولت، تردې چې د شيخ ابوبکر البغدادي حفظه الله ترمشرۍ لاندې د نبوت په تګلاره خلافت راستون شو، په دې اړه په پريکړه کې داسې راغلي دي: «اسلامي دولت خپل مسيرته هيڅ تغييرور نکړ، نه يې په خپل دين چا سره سودا وکړه او نه د خپل هوډ څخه ستون شو، بلکې په دغه کارثابت قدم و، نه يې چا سره په دې کارکې دوستانې راښکلي او نه د سمې لارې څخه کوږ شو»، په دغې پريکړې کې د دې خبرې

پخلی شوی چې اسلامي دولت خپل دین خلکو ته په ډاګه بیانوي او په دې اړه د چا د خوښې او نا خوښې هیڅ پروا نه لري بلکې د ټولو سره د هغه څه په رڼا کې معامله کیږي چې اسلامي دولت یې د ځان لپاره غوره کوي، لکه چې شیخ او محمد العدناني تقبله الله وایي: «مونږ به جنګیږو، جنګیږ او جنګیږو تردې چې ټول دین د الله عزوجل شي، مونږ به خلکو ته منتونه ونه کړو چې د الله عزوجل دین قبول کړي او په شریعت فیصلې وکړي، که څوک خوښ وي نو دغه د الله عزوجل شریعت دی او که څوک نا خوښ وي او انکار کوي نو د هغه پوزه به سپیره کړو او دا هم د الله عزوجل دین دی، مونږ به مرتدینو ته کافروایو او د هغوی څخه به براءت اعلانوو، د کفارو او مشرکینو سره به دښمني او بغض کوو».

د اسلامي دولت وینا هغه ده چې د دې د دولت امام، د هغه نائبان او یایې رسمي ویاند ووایي

د هغو دعویدارنو د رد په مورد کې چې د خپلو باطلو وینا او ګمراهو اعتقاداتو لپاره منډې ترړې وهي او اسلامي دولت ته په منسوبولو سره دغه ویناوې مشهوروي، که دغه باطل پرست په ځانګړې توګه د تکفیر په مسئله کې د غُلو کوونکو څخه وي او که د ارجاء عقیده لرونکي وي، همدا ډول د هغو خلکو په رد کې چې د اسلامي دولت په عقیده او منهج نیوکې لري، بلکې د اسلامي دولت امیران او مجاهدین په داسې وینا او عقائدو کافر بولي چې دوی یې ورته منسوبوي، یا دغه باطل پرست د اهل السنت والجماعت په عقیده پوه نه وي او په هغه څه عیب وایي چې د دوی د خواهشاتو مخالف وي، په دې اړه لجنه په خپله مبارکه پریکړه کې وایي: «هر چې هغه څرګندونې دي چې ولاء او براء عقیده ویلې کوي او ابراهیمي ملت د ارجاء او تجهم په شبهاتو کې دفن کوي، یا د هغو غُلو کوونکو ویناوې، څوک چې له اسلام څخه داسې وتلي دي لکه غشی چې له لیندې بهر شي، نو اسلامي دولت د دغې ډول ټولو ویناو څخه بري دی، هیڅ لره حق نشته چې د اسلامي دولت په نوم خبرې وکړي، یا اسلامي دولت ته داسې وینا منسوبه کړي چې هغه نه وي کړې، د اسلامي دولت وینا هغه ده چې د خلافت امام یا د هغه نماینده ګان او یا یې رسمي ویاند وکړي».

اسلام دولت د مشرکینو په تکفیر کې توقف نه کوي او د مشرکینو تکفیر د دین د هغو څرګنده بنسټونو څخه ګرځوي چې پیغمبرانو پرې راتګ کړی دی

لجنې په خپلې پریکړه کې بیا د هغو ګمراهانو ډولونو ته اشاره کړې چې په اسلامي دولت دروغ وایي او هغه ویناوې ورته منسوبوي چې د اسلامي دولت د مشرانو له ویناو څخه نه دي او هم ورته داسې عقائد منسوبوي چې اسلامي دولت ترې بیزاره دی.

په دغو ګمراهانو کې یوه ډله داسې ده چې د مرجئه ویناوې کوي او په دغو دروغژنو ویناو کې دوی د اسلامي دولت مخالفین دي، اګر چې خپله دغه ګمراهي او انحرافات اسلامي دولت ته منسوبوي، لکه هغه څوک چې وایي: « چې د خپل قوم طاغوت ته کافر نه وایي »، «اګر چې اسلامي دولت د طواغیتو تکفیر کوي او هغه چا ته هم کافر وایي چې د دغو طواغیتو څخه دفاع کوي، اسلامي دولت په دې اړه د چا د عزتونو خیال نه ساتي»، همدا ډول هغه څوک « چې د مشرکینو د تکفیر څخه یې پته او یا اختلافي مسئله جوړه کړې او د دغه کار لپاره یې داسې درانه شرطونه وضع کړي چې دریم ناقض یې پرې په مکمل ډول معطل کړی، چې بالآخره د دغه ډول خلکو په نیز هغه څوک هم په خپلو ټولو احوالو کې کافر نه دی چې د بت د عبادت کوونکو په کفر کې توقف وکړې، برابره خبره ده که دغه عمل یې د شرک له زمرې حسابوي او که نه، دوی وایي:دغه سړی هغه مهال کافر کیدای شي چې په خپل کار پوه شي، همدا ډول دا خلک هغه چاته هم کافر نه وایي چې الله رب العالمین ته د کنځلو کوونکو په کفر کې توقف وکړي، مګر د خپل دغه کار د پېژندلو نه وروسته ورته کفر وایي، بیا دوی یو قدم نور هم مخکې تللي او عمر رضي الله عنه ته یې د زکات د نه ورکوونکو په اړه د تکفیر نه کولو فیصله منسوب کړې، ترڅو خلکو ته دا وهم پیدا شي چې د صحابه کرامو ترمنځ ګواکې (د دوی په نیز) د مشرکینو په تکفیر کې اختلاف موجود و، له دې هم ډیره زیات بې کاره قدم دا دی چې دوی بیا دغه ناوړه عقیده اسلامي دولت ته منسوبوي! اګر چې دغه یواځې په اسلامي دولت تهمت دی، ځکه ټول خلک په دې پوه دي چې اسلامي دولت-الله عزوجل دې په توحید نور هم مضبوط کړي- یوه ورځ هم د مشرکینو په تکفیر کې توقف نه دی کړی، د اسلامي دولت په نیز مشرکینو تکفیر د دین له ښکاره اصولو څخه دی، هغه اصول چې د هغې پېژندل د لمانځه او نورو ټولو ضروري فرائضو څخه ډیر مهم دی، لکه چې د شرعي دیوانونو د څارنې د مرکزي دفتر څخه په صادر شوي بیان کې راغلي دي، چې د هغه د مشرکینو په کفر کې د توقف کوونکي په اړه مخکې په ۱۴۳۸/۸/۲۲هـ نیټه نشر شوی و».

په پریکړه کې د (اصول الدین) څخه هغه عقیدوي مسائل مراد دي چې پیغمبرانو یې خپلو اقوامو ته ښوونه کړې، یعنې هغه چې په رسالې حجت سره ثابت شوي وي، له دې (اصل الدین) مراد نه دی کوم چې د پیغمبرانو علیهم السلام د راتلو نه مخکې ثابت او واجب دي، لکه د الله عزوجل د ربوبیت توحید او یواځې د هغه بندګي کول.

په دغې دول ګمراهانو کې هغه څوک هم شامل دي چې «طاغوت ته فیصله وړل په دې دعوا مباح ګڼي چې ضرورت دی او بیا دغه ضرورت د اکراه مرتبې ته رسوي» او هغه څوک چې «د ممتنعه ډلو په تکفیربانديې د صحابه کرامو اجماع ردوي» او هغه څوک «چې په ټاکنو کې د رایه اچوونکي په کفر کې توقف کوي او

د دغه توقف لپاره دا دعوا کوي چې دغه خلک د انتخاباتو په حقیقت نه پوهیږي» او هغه څوک چې «د طاغوت د ملایانو څخه براءت نه کوي، هغه ملایان چې شرک ته بلنه کوي».

هم دا ډول په دغې پریکړه کې لجنې یوې بلې ګمراه ډلې ته اشاره کړې چې په اسلامي دولت نیوکه کوي او یو شمیر داسې عقائد پرې بدې ګڼې چې هغه اصلا د اهل السنت والجماعت عقیده ده او یا داچې دغه خلک د خوارجو او معتزله له عقائدو متاثروي نو اسلامي دولت ته د دغو صحیحو عقائدو په درلودولو سره کافروایي، یا په اسلامي دولت باندې په عقیده کې داسې ویناوې تپې چې هغه د اسلامي دولت له عقائدو څخه نه دي، بلکې دغه پرې یواځې درواغ او تهمت دی چې ګمراهان یې ورپورې تپې او یا د هغه چا ویناوې دي چې د ارجاء عقیده درلودونکو اسلامي دولت ته منسوب کړې.

په پریکړه کې راغلي: « اسلامي دولت ته څکه کافروایي چې اسلامي دولت د معتزله په څیر په تکفیر کې د بدعي تسلسل قائل نه دی او « ځینې اسلامي دولت ته دا خبره منسوبوي چې دوی د دیار الردة (هغه دارکفر پرې راغلی وي) خلکو کې اسلام اصل بولي، چې دغه په اسلامي دولت درواغ او محضې تهمت دی»، بلکې اسلامي دولت په دیار الردت کې خلکو په اړه هغه ډول پریکړه کوي چې د دغو خلکو څخه څرګند شي (که کفر ترې څرګند شو د کفر فیصله کوي او که اسلام ترې څرګند شو د اسلام فیصله پرې کوي)، په پریکړه کې راغلي « ځینې یې اسلامي دولت ته په دې خبره کافروایي چې ګواکې اسلامي دولت د کفر صریح کارونه د جنګ د مصلحت پر اساس روا بولي، چې په دې کې دغه خوارج درواغژن دي.

بلکې په دې اړه د اسلامي دولت ښکاره عقیده دا ده چې: صریح شرک اکبر او صریح کفر اکبر هیڅ کله نه شي جائز کیدای، مګر د اکراه (مجبوری) پر مهال... دغه په دې مسئله کې د اسلامي دولت وینا او عقیده ده، خو دغو جاهلانو ته غلطي شبهې څکه پیدا شوې چې دوی جاهلان دي او دوی د هغه څه په اړه چې صریح کفر او شرک وي او هغه څه چې د تعریض له باب څخه دی دوی یې توپیر نه شي کولی، هغه تعریض چې محمد بن سلمه رضي الله عنه او نورو کړی دی»

د شریعت سره سم نصیحت او د دین خلاف نیوکه

د لجنې په دغې پریکړه کې ټولو مسلمانانو ته د دې خبرې خبرداری ورکړل شوی چې باید د مشرانو په نصیحت کې د اهل السنت والجماعت په تګلاره ولاړ شي او د هغو ګمراهانو د لارې څخه ځان وساتي چې د یو امیر هره خطایي او کمي د مجاهدینو ترمنځ د بدی په مشهورولو، د مسلمانانو ترمنځ د دروغژنو پروپاګندو او د دښمن له جنګ څخه د خلکو کینولو لپاره لامل وګرځول شي، بلکې ډیر یې داسې دي چې دغه کار د مشرکینو سره د ملتیا لپاره لامل ګرځوي، لجنې په خپله پریکړه کې د دې خبرې یادونه کړې چې دا ډول ناکاره عملونه د هغه چا کار دی چې د عثمان رضي الله عنه پرخلاف یې پاڅون کړی و، د هغوی هم ګمان دا و چې مونږ اصلاح غواړو، په سنت حرص لرو او د امت په اړه غیرت لرو.

په دې اړه د لجنې به دغې پریکړه کې راغلي: « چاچې د خپلو امیرانو لپاره د نصیحت دا لاره غوره کړې چې بدي یې بیان کړې، خلکو ته یې په غلتیو مشهور کړي، درواغژنې پروپاګندې پسې خپرې کړي، خلک ترې لرې باسي او داسې طریقه اختیارکړې چې یواځې کفار، مرتدین او منافق دښمنان پرې خوشحالیږي، نو د دغه ډول خلکو ترټولو ښه حالت به دا وي چې دوی د قرآن مخالفت وکړ، سنت یې له مخې لرې کړ او په نصیحت کولو کې د سلف صالحینو په لاره روان نه شو، څکه د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: «مونږ ته خپلو مشرانو صحابه کرامو رضي الله عنهم ویلي دي: تاسو خپلو امیرانو ته کنځل مه کوئ، درغلي ورسره مه کوئ، بغض ورسره مه کوئ او د الله عزوجل څخه ویریږئ، صبر وکړئ څکه د خلاصي وخت نږدې دی».

په پریکړه کې راغلي: «دغو شرمیدلو خلکو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وصیت په اړه هیڅ سوچ نه دی کړی چې په امیرانو به صبر کوي که هغه بانډچیان وي که حبشیان، که نیک وي که ګناهګاران، که ځان ته څه دنیاوي اغراض هم اخلي، د امیر قدر به پیژندل کیږي او په نیکیو کې به یې خبره منل کیږي».

په پریکړه په هغه چا غږ شوی چې خپلو خواهشاتو ورته باطل د حق او فساد د اصلاح په جامه کې ښکاره کړی دی چې دوی باید نور په خپله ګمراهی ورانډې ولاړ نه شي، وایي: «دا معلومه خبره ده چې دغه ډول نیوکې نه د شریعت سره سم نصیحت دی او نه د منکر انکار دی، بلکې دغه بدي بیانول، جرحه کول بد صفات مشهورول او ښه پټول دي، دا خبره داسې نه ده لکه چې څرنګه یې بعضې هغه خلک کوي چې نفس اماره بالسوء پرې غالبه وي چې ګواکې دغه بې ځایه نیوکې او بدي بیانول بهادري بولي، غیبت ته د حق اظهاروایي او د مسلمانانو د صف نه وتل د ظالمانو څخه د بیلیدو په نوم تعبیروي، والله المستعان».

دغه پریکړه د هغو پریکړو او خبرتیاو د لړۍ یوه برخه ده چې لجنه مفوضه (لوړ رتبه کمیسیون) او د شرعي دیوانونو د څارنې دفتري صادروي، ترڅو د هغه څه په اړه د اسلامي دولت عقیده او منهج بیان شي چې خلک پکې اختلاف لري، په ځانګړې توګه هغه مسائل چې خلک پکې بې علمه ویناوې کوي، قدمونه پکې خویږي او د خلکو فهم پکې د لړزان ښکاروي.

د روژې فضائل

١ روژه د تقوا وسیله ده

الله تعالی فرمايي: {يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ} [البقرة: ١٨٣].ای مؤمنانو! پر تاسو روژه داسې فرض کړی شوې لکه په مخکنو خلکو چې فرض وه، پدې خاطر چې تاسو تقوا دار شئ.

بغوي وايي: {لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ} يعنې تاسو په روژې سره تقوا دار شئ؛ ځکه روژه د تقوا په لور وسیله ده؛ لامل یې په نفس زور راتلل او شهوتونه ماتیدل دي.

٢ روژه د روژه دار لپاره د قیامت په ورځ سپارش کوي

د عبد الله بن عمرو -رضي الله عنهما- څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمايي: (روژه او قرآن د قیامت په ورځ د بنده لپاره سپارش کوي، روژه به وايي:ای زما ربه! ما د ورځې د خوراک او شهوتونو څخه منع کړی وو، نو زما سپارش یې په هکله ومنه، او قرآن به وايي: ما د شپې د خوب څخه منع کړی وو، نو زما سپارش یې په هکله ومنه،(رسول الله صلی الله علیه وسلم) فرمايي: نو د دې دواړو سپارش به د بنده په هکله ومنل شي[مسند الإمام أحمد].

٣ الله تعالی روژه دارو لپاره مغفرت او ډیر لوی اجر تیار کړی

الله تعالی فرمايي {وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا} [الأحزاب: ٣٥] او روژه دار سړي او ښځې او هغه سړي چې خپل شرمګاه ساتي او هغه ساتونکې ښځې او هغه سړي چې الله تعالی ډیر یادوي او د الله ذکر کونکې ښځې، الله تعالی دوی لپاره بښنه او لوی اجر تیار کړی دی.

٤ روژه د مؤمن لپاره د فاحشاتو څخه کلا ده

نبي صلی الله علیه وسلم فرمايي: (ای د ځوانانو ټولیه! په تاسو کې چې څوک د واده(او کور) توان لري، نو هغه دې نکاح وکړي، او که څوک نا توانه وي نو روژه دې ونیسي ځکه روژه انسان خصي کوي) [متفق علیه].

٥ روژه ډال دی

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: (روژه د اور څخه ډال دی، نو روژه دار دې فاحشه خبرې او بیهوده(د ناپوهۍ) کارونه نه کوي، که چیرته ورسره چا شخړه وکړه یا یې ورته کنځل وکړل نو دا دې ووايي: زه روژه یم«درې ځل»).[صحیح بخاري].

ابن عبد البر وايي: دلته د ډال مطلب: د اور څخه ساتل او په پرده کې کیدل دي، او د روژې دومره فضیلت هم بس دی.

٦ روژه ګناهونه رژوي

د حذيفة -رضي الله عنه- څخه روایت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (انسان چې د خپل اهل، مال او ګاونډي له امله په فتنه(ګناه، غفلت) کې وغورځیږي، نو دغه فتنه په لمونځ، روژې او صدقې رژیږي) [صحیح البخاري].

٧ روژه دارو لپاره په جنت کې خاص دروازه ده

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: (په جنت کې یوه دروازه ده چې الریّان نومیږي، د قیامت په ورځ به په دغه دروازه یوازې روژه دار ننوځي، بل هیڅوک نه، غږ به وشي چې روژه دار چیرته دي؟ نو دوی ټول به ننوځي، کله چې وروستنی روژه دار داخل شي، نو دغه دروازه به بنده شي، بل هیڅوک به پرې داخل نشي) [صحیح مسلم].

٨ د روژه دار لپاره د خپل رب سره د ملاقات پر وخت ځانګړې خوشحالي ده

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: (د بني آدم هر نیک عمل څو چنده کیږي؛ یوه نیکي په لس چنده بدلیږي، تر اووه سوه چنده پورې، الله تعالی فرمايي: مګر روژه داسې نده، ځکه دا زما لپاره نیول شوې ده او زه به پرې بدلې ورکوم، ځکه بنده زما له امله خپل شهوت او خوراک پریږدي، د روژه دار لپاره دوه خوشحالۍ دي؛ یوه د روژه ماتي پر وخت او بله هغه وخت چې د خپل رب سره به مخامخ شي او د روژه دار د خولې بد بوی الله تعالی ته د مسکو د خوشبو څخه هم ډیر ښه دی) [صحیح مسلم].

د خپل میړه ملاتړ کوونکې شه

نه د جهاد څخه د هغه کینوونکې

د جنګ، فتنې او سختیو په حالاتو کې غمونه زیات شي او زړونه مرۍ ته راورسي، ځینې خلک الله رب العالمین په خپل خاص فضل د هغوی د ایمان او په الله عزوجل د ښه ګمان پر اساس ثابت قدمه پاتې کړی شي او ځینې نور داسې وي چې هلاک شي او په خپلو پوندو واوړي، د خپل دین څخه ستون شي، شا را واړوي او د خپلو ورونو سره خیانت وکړي، بلکې ډیرپکې داسې هم وي چې یواځې په خپله نفسي ماتې بس نه کړي، بلکې کوښښ کوي چې دغه ماتې نورو ته هم نقل کړي او د ټولو مسلمانانو ترمنځ یې خپره کړي؛ د دښمنانو حیثیت له حده زیات لوی کړي، مسلمانان له کفارو ویروي او په دغه کارېي د قتال او د کفارو په مخکې له ودریدو څخه واړوي.

دغه د منافقانو یو مشهور عمل دی، چې د کمزوري ایمان او د یقین څخه په خالي خلکو کې موجود وي، برابره ده که هغه سړي وي او که ښځې، د سړو خبرې خو په تفصیل شره شوې دي، خو د ښځو مصیبت هلته وي چې دغه شان پروپاګندې او ارجاف د منافقینو له کورونو او ژبو نقل کړي او خپل کور ته یې ننباسي او د خپلو بچو او میړه مخې یې واچوي، چې په دې سره ښځه په نفاق کې واقع شي که په ځان پوهیږي او که نه پوهیږي.

ارجاف د منافقانو کار دی

ارجاف د فتنو او غوغا خپروونکي دروغژن خبر ته وايي، امام قرطبي په خپل تفسیر کې وايي: (ارجاف: فتنه لټول، درواغ او باطل د خفګان لپاره خپرول).

الله عزوجل ارجاف او ارجاف خپروونکي خلک د قرآن کریم په ډیرو آیتونو کې سپک کړي او بدې ورله بیان کړې ده، الله عزوجل فرمايي: (قَدْ يَعْلَمُ اللَّهُ الْمُعَوِّقِينَ مِنكُمْ وَالْقَائِلِينَ لِإِخْوَانِهِمْ هَلُمَّ إِلَيْنَا وَلَا يَأْتُونَ الْبَأْسَ إِلَّا قَلِيلًا) [الاحزاب: ۱۸]، ژباړه: یقینا الله عزوجل په تاسو کې د جهاد څخه منع کوونکي پیژني او هغه خلک هم پیژني چې خپلو ورونو ته وايي: زمونږ خوا ته راشئ (او محمد صلی الله علیه وسلم پریږدئ) او دوی جنګ ته نه راځي مګر ډیر لږ.

بل ځای الله عزوجل فرمايي: (لَّئِن لَّمْ يَنتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلًا * مَّلْعُونِينَ أَيْنَمَا ثُقِفُوا أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلًا) [الاحزاب: ۶۰-۶۱]، ژباړه: که منافقان، د زړه مریضان او په مدینه کې د درواغو اوازې خپروونکي د خپل دغه ناوړه کار څخه منع نه شي نو مونږ به پرې تا ور تیز کړو، بیا به دوی تاسره په مدینه کې ونه وسیږي مګر ډیر لږ، په دوی به لعنت وي، هر چیرته چې راګیر شول نیول کیږي به او په سخت مرګ به وژل کیږي.

په دې آیتونو کې ښکاره بیان دی چې مومنانو ته د درواغو اوزې او داسې خبرونه خپرول چې هغوی پرې خفه شي او ضرر ورته ورسیږي د سختې سزا واجبوونکی عمل دی، چې بیا د تعزیر او که په دغه کار پاتې شي نو له سیمې د شړلو مستحق به وي، داسې منافقین خلک په مدینه کې موجود وو او یو شمیر نور داسې وو چې علم یې نه درلود چې په زړه مریضان ذکر شوي او یقین یې کمزوري وي، دوی په مومنانو کې دا درواغژن او د غم اوازې خپرولې چې کفار او مشرکین ستاسو پر ضد راجمع شوي او را روان دي، چې په دې سره هغوی د کفارو شان لوی کړ او مومنان به یې ویرول، نو الله عزوجل د دغو خلکو په اړه دا خبره را ولیږله چې دغه خلک د مدینې څخه د شړلو او که منع نه شي د مرګ لائق دي، بیا الله عزوجل وفرمایل چې دغه د الله عزوجل هغه سنت دی چې باید عمل پرې وشي او مومنان پرې روان شي.

ځینې احمقان چې ګمراه شول او دار الکفر ته ستانه شول؛ لریا دي اوس پوچې اوازې خپروي




استشهادي ابو عمر المصلاوي تقبله الله خپلې ميرمنې ته په وروستني پيغام کې د ثبات وصيت وکړ

د ارجاف د خطر له امله الله عزوجل مومنانو ته امر کړی چې د مرجفينو سره به ګډ مجلس نه کوئ، ځکه دوی په دغو درواغژنو خبرو ستاسو صف کمزوری کوي او مسلمانان په ځانته پريښودو ضعيفه کوي، الله عزوجل فرمايي: (لَوْ خَرَجُوا فِيكُم مَّا زَادُوكُمْ إِلَّا خَبَالًا وَلَأَوْضَعُوا خِلَالَكُمْ يَبْغُونَكُمُ الْفِتْنَةَ وَفِيكُمْ سَمَّاعُونَ لَهُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ) [التوبه: ۴۷]، ژباړه: که دوی ستاسې سره جهاد ته ولاړشي، نو ستاسې په ليکوکې به کمزوي، شر او فساد خپور کړي، ستاسې په منځ کې به د چغلی او بغض منديې ووهي، فتنه اچول به غواړي، په تاسو کې د دوی لپاره اوريدونکي هم شته او الله عزوجل په ظالمانو پوه دی.

ابن اسحاق رحمه الله وايي:»يوه ډله منافقين د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره وتلي وو، کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم تبوک ته روان نو هغه ته به يې په سفرکې اشارې کولې او يو بل ته به يې ويل:» آيا تاسو د روميانو جګړه د عربو د جګړو په څير بولئ! په الله قسم مونږ له اوس نه پوهيږي چې مونږ به سبا په رسيو کې تړلي يو او د روميان سره به اسيران يو»، دغه خبره به منافقينو په دې خاطر کوله چې مسلمانان کمزوري شي».

په تقدير ايمان او د الله عزوجل په وعده باور لرل د مومنې ښځې زغره ده

په دې باب کې ښځې کټ مټ د سړو په څير دي، که کومه مسلمانه ښځه په دغه ډول جرم کې په پوهه يا ناپوهۍ کې ولیدلې وي، خپل کور والا يې ويرولي وي او زړه کمزوري کوونکي درواغژن خبرونه يې خپاره کړي وي نو بايد د الله عزوجل څخه د دغې ګناه ښنه وغواړي او د الله عزوجل په قضا او تقدير خپل ايمان صحيح کړي او د الله عزوجل په دغې وينا ځان په صحيح توګه پوه کړي چې فرمايي: (قُل لَّن يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَانَا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ) [التوبه: ۵۱]، ژباړه: ورته ووايه: مونږ ته را ونه رسي مګر هغه څه چې الله عزوجل زمونږ لپاره ليکلي وي په تقدير کې هغه زمونږ مالک دی او په الله عزوجل دې مومنان توکل وکړي.

او د رسول الله عليه وسلم په دې حديث دې هم ځان پوره پوه کړي چې عبد الله ابن عباس رضي الله عنه ته هغه مهال فرمايلي وو چې هغه ورپسې شاته سپور و: « ای هلکه زه تاته يو څو خبرې ښايم: د الله عزوجل ساتنه وکړه، الله عزوجل به ستا ساتنه وکړي، د الله عزوجل ساتنه وکړه ته به الله عزوجل خپلې مخې ته وګورې، کله چې سوال کې وې د الله عزوجل نه يې کوه او چې کله مرسته غواړې د الله عزوجل نه يې وغواړه او په دې پوه شه که ټول امت په دې خبره راجمع شي چې تاته يوه ښيګړه او نفع ورسوي نو تاته به يواځې هغه نفع رسوي چې الله عزوجل درته ليکلې ده او که ټول په دې خبره راجمع شي چې تاته نقصان ورسوي نو يواځې هغه نقصان به درته رسوي چې الله عزوجل درته ليکلی دی، تقدير ليکونکي قلمونه پورته شوي او پاڼې وچې شوي» [مسند احمد، سنن ترمذي].

مسلمانې ميرمن ته د هميشه لپاره پکاردي چې کله د دښمن د ځواک، جنګي تياريو او د هغوی د جنګي ساز سامان په اړه دروا‌غژني پروپاګنډې واوري نو بايد د هغې مخې ته د الله عزوجل دغه وينا کيږدي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم او د هغه د صحابه کرامو په اړه يې فرمايلي، کله چې د احد له غزا وروسته هغوی ته په حمراء الاسد کې خبرراغی چې مشرکين درته تياری نيولی او لښکري يې راجمع کړي ترڅو تاسو له منځه يوسي، الله عزوجل فرمايي: (الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَانًا وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ* فَانقَلَبُوا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوءٌ وَاتَّبَعُوا رِضْوَانَ اللَّهِ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَظِيمٍ * إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ الشَّيْطَانُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَاءَهُ فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ) [آلعمران: ۱۷۳-۱۷۵]،

ژباړه: هغه کسان چې خلکو ورته وویل: خلک درته راجمع شوي؛ تاسو ترې ویرېږئ، نو په دې سره د مومنانو ایمان نور هم زیات شو او ویې ویل: الله عزوجل زمونږ لپاره کافي دي او هغه ښه ذمه وار دی، نو مومنان د الله عزوجل په نعمت او فضل سره راستانه شول چې هیڅ ډول تکلیف ورته ونه رسید او د الله عزوجل د رضا مندتیا تابع شول او الله عزوجل د لوی فضل خاوند دی، یقینا دغه شیطان دی چې خپل دوستان ویروي، نو تاسو ترې مه یرېږئ او زما څخه ویرېږئ که تاسو مومنان یاست.

نو د مومنې مېرمنې لخوا به مرجفینو او منافقینو ته دا ځواب وي چې «حسبنا الله ونعم الوكيل» ځکه د هغې به دا یقین وي چې د الله عزوجل مرسته زمونږ لپاره کافي ده اګر که د دښمن ځواک هر څومره لوی وي او ځکه چې د مومنې مېرمن ایمان دی چې ما، زما اهل او ټولو خلکو ته به یواځې هغه څه رسي چې الله عزوجل ورته لیکلي دي او ځکه چې مسلمانه مېرمن په دې باوري ده چې د شیطان ویرول او پروپاګندې یواځې د هغه په دوستانو تیریږي نه په مومنانو.

د مومنانو مور خدیجه رضي الله عنها رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د ثابت قدمۍ خبرې کوي

بیا دغه فرض د مجاهدینو په مېرمنو، میندو او خویندو ډیر واجب دی، چې دوی د مجاهد لپاره په خپلو کورونو کې د مرستې څرګندونه وکړي او د مرجفینو له درواغژنو پروپاګندو او د منافقینو له خبرو یې خوندي وساتي، مسلمانه مېرمن باید د خپل مجاهد په وړاندې یواځې هغه خبرې وکړي چې د هغه قدم پرې ټینګ او زړه پرې راغونډ شي، چې په دې اړه ترټولو په زړه پورې کیسه د ام المومنین خدیجه رضي الله عنها کیسه ده، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د جبریل علیه السلام د لومړي ملاقات او د هغه سره د خبرو د انداز او حالت څخه په رعب او ویره کې شو او خپلې مېرمنې خدیجې رضي الله عنها ته راغی او ویل یې: «په ما بستره راواچوئ، په ما بستره راواچوئ» نو هغې رضي الله عنها د ثبات د غره په څېر رسول الله صلی الله علیه وسلم لومړی په بستر کې پټ کړ، کله چې د هغه څخه د ویرې او رعب حالت ولاړ، خدیجې رضي الله عنها ته یې د خبر په اړه وویل: «زه په خپل ځان ویریدم» هغې ورته وویل: هیڅکله داسې نه ده، په الله عزوجل قسم چې الله عزوجل به تا هیڅکله ونه شرموي، ته خو خپلولي پالې، د کمزورو مرسته کوې، بې وزله د لاسه نیسې، او نادارہ ته کسب پیدا کوې، میلمه ته میلمستیا ورکوې او د حق په پیښو کې ملاتړ کوې...» [متفق علیه]، او بیا خدیجه رضي الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دعوت ترټولو لومړۍ مؤمنه مېرمن شوه، چې تر مرګه په دغه حالت قائمه پاتې شوه، د هغه مرسته به یې کوله د هغه ملاتړ به یې کاوه او تر مرګه به یې د هغه معنویات مضبوطول، چې په دې توګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زړه کې د هغې محبت د وفاء په توګه پاتې شو، تردې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې په اړه یوه ورځ وفرمایل: «هغې په ما هغه مهال ایمان راوړ چې خلکو راباندې کفر کوو، هغه مهال یې زما تصدیق وکړ چې خلکو درواغژن ګڼلم او په خپل مال یې زما هغه مهال مرسته وکړه کله چې زه خلکو محروم کړم» [مسند احمد].

اسماء بنت ابي بکر رضي الله عنها خپل ځوی مرګ ته هڅوي او په خپله صابره اوسي

په دې اړه د غوره مثالونو څخه یوه هم اسماء بنت ابي بکر -رضي الله عنها وعن ابيها وزوجها وبنيها- هم وه کله چې د هغې ځوی خلیفة المسلمین عبد الله بن الزبیر په مکه کې د حجاج بن یوسف په مشرۍ د باغي لښکر لخوا محاصره کړی شو، نو عبد الله بن الزبیر خپلې مور ته راغی، ترڅو له هغې د حجاج بن یوسف جنګ ته په وتلو کې مشوره واخلي، هغه وویل: «زه خلکو ځانته پرېښودم تردې چې خپل بچي هم رانه وتښتیدل، زما سره اوس ډیر کم شمیر خلک دي چې یو ساعت هم دفاع نه شي کولی او دښمن ماته د دنیا هرڅه راکولو ته تیار دی، نو ستا څه رایه ده؟ هغې ورته وویل: ای ځویه ته په خپل ځان د نورو نه ښه پوه یې، که چیرته ته پوه یې چې ته حق ته بلنه کوې او په حق یې نو بیا ورځه، ځکه ستا ملګري هم په دغه حق مړه شول او خپل څټ د بنو امیه هلکانو ته په لاس مه ورکوه چې لوبې پرې وکړي او که چیرته ستا مطلب دنیا وه نو ته ډیر بد بنده یې، خپل ځان دې هم هلاک کړ او هغه څوک دې هم هلاک کړل چې ستا سره ووژل شول، که ته وایې چې زه په حق وم، خو ملګري مې کمزوري شول نو څه وکړم! نو دغه کار هم د ازادو او دیندارو خلکو نه دی، ځکه ته به تر کومه په دنیا کې ژوندی اوسې، په دغه لاره کې وژل کیدل ښه دي « نو امیر المومنین خپلې مور ته رانږدې شو، په سر یې ښکل کړه او ویې ویل: «په الله عزوجل قسم مورې دغه زما رایه هم ده... خو ما غوښتل چې ستا رایه معلومه کړم، نو ستا په خبرو مې نور هم بصیرت زیات شو، مورې زه نن وژل کیدونکی یم نو ته باید خفه نشې او کار ټول الله عزوجل ته وسپاره» هغه په داسې حال کې راستون شو چې دغه خبرې یې زمزمه کولې: «زه چې خپله ورځ پیژنم نو باید صبر وکړم او خپله ورځ خو یواځې ازاد انسان پیژني»، کله چې د هغې مور رضي الله عنها دغه خبرې واوریدې ویې ویل: «ته صابره اوسه په الله قسم دی ان شاء الله ستا پلار ابو بکر او زبیر دی او ستا مور صفیه بنت عبد المطلب ده».

په همدې توګه به مسلمانه مېرمن د خپل مېړه ترڅنګ وي او همدغه ډول به مور خپل مجاهد ځوی ته نصیحت کوي، مجاهد به د الله عزوجل د دښمنانو په جهاد کې روان وي د الله عزوجل امر به پلی کوي او د دغې مور او مېرمنې لپاره به ان شاء الله د هغه له عمل څخه اجر او حصه وي.

اثناعشري امامي روافض

د ناپید له امامتی څخه
د طواغیتو تر مشری پورې

د اسلامي دولت قیام
د نبوي منهج او د ګمراهانو د تګلارو ترمنځ
څلورمه برخه

د دې څېړنې دلړۍ په مخکنو ګڼو کې مونږ (د خدایي امامت) نظريې پر بنسټ د رافضي باطل دين د پيل کيدو په اړه تاريخي وقائع بيان کړل او بيا چې له دغې ډلې کوم فاسد نظريات پيدا شوي په هغې مو هم خبره وکړه، لکه د (وصيت)، (النص)، (تقيه)، (بداء)، (ورکيدل)، (بيا راتلل) او داسې نور بدعي او خرافاتي نظريات.

په دې کړۍ کې به مونږ -بإذن الله- په دې خبره کوو چې څرنګه راوفض په خپله نظريه (خدايي امامت) لوبې کولو ته اړ شول، هغه نظريه چې دوی د اسلامي دولت د قيام لپاره شرط ګرځولې وه، خو بيا په دغې نظريه کې پرلپسې تبديلياني کولې تردې چې د (ولاية الفقيه) کنده نظريې ته ورسيدل، هغه نظريه چې د دوی د لومړۍ نظريې سره ښکاره ټکر لري او اوس په دغه نظريه د دوی شرکي ايراني دولت هم ولاړ دی، بلکې په ټوله اسلامي نړۍ کې دغه نظريه خپرول غواړي.

د هغې دعوې برخلاف چې روافض يې لري چې ګواکې د دوی دين د اسمان څخه په محمد صلى الله عليه وسلم رانازل شوی او بيا دوی ته په مسلسل ډول د علي رضي الله عنه او د هغه د اولادې څخه رانقل شوی، تردې چې ليکل شوی او په خلکو کې خپور شوی، مګر زياتره څېړونکي په دې باور دي چې دغه دين روافضو د هغه چا له مرګ وروسته ليکلی چې دوی پکې د عصمت او امامت دعوا لري، کله چې د علي رضي الله عنه د اولادې دغه مزعوم انسان ورک شو يعنې دولسم امام، نو دوی د خپل دين د ساتنې لپاره يوه درواغژنه کيسه جوړه کړه ترڅو خپل جامه وګنډي او خپله نړيدونکي ابادي وساتي.

روافضو يوائې په دې بس نه کړه چې د امامت د منصب لپاره يې نص او عصمت شرط کړل ترڅو په دغې سره د ابو بکر رضي الله



د "حسن العسکري" شرکي مزار؛ وروسته له هغې چې د مجاهدینو په لاس ویجاړ کړی شو

عنه څخه راواخله د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ټولو خلفاء راشدینو د خلافت مشروعیت له منځه یوسي د هغوی پر خلاف پاڅون کول جائز کړي او د هغوی تکفیر وکړي، بلکې روافض عامو مسلمانانو ته هم متوجه شول او د هغوی په دین کې یې یو شمیر کارونه شرط وګرځول ترڅو هغوی د بیعت او د رفض په دین کې د داخلیدلو لپاره د مسلمانۍ صفت ترلاسه کړي.

په دې لړ کې تر ټولو مهم څیز چې دوی پرې پیل وکړ؛ هغه د امامت مسئله وه، دوی د امامت څخه د دین یو اصل جوړ کړ، که چا د خپلې زمانې امام ونه پیژندو او بیعت یې ورسره ونه کړ نو هغه مومن نه دی، ځکه خو د دوی په خپل منځ کې هم د دوی د هغو لویو امامانو د ایمان په اړه اختلاف موجود دی، کوم چې د امام د تعیین څخه وړاندې د اختلاف په زمانه کې وژل شوي.

بیا یې خپل دین په خپلو اتباعو نور هم راتنګ کړ او ویې ویل چې د امامت د منصب سره چې کوم احکام تعلق لري هغه ټول توقیفي دي؛ لکه د قضاء، حدود، حسبې، جهاد، جمعې او داسې نور احکام، نو له دې امله په دغو احکامو به هغه څوک قیام کوي چې هغه د دوی په نیزد امام وي یا هغه څوک چې امام یې په دغه غرض مقرر کړي، دوی په خپلو اتباعو دا حرام کړي چې د هغوی په نیزد «ظالمانو امامانو» ته چیرته فیصله وړاندې نه کړي، نه د هغوی په صف کې جهاد وکړي، نه ورپسې لمونځ وکړي او نه ورته زکات ورکړي.

بیا یې په دې هم بس کړی نه دی، بلکې په دین کې د تشریع په تحریف مسلط شوي، چې په دې لړ کې یې خپل اتباع نیغ په نیغه د قرآن او سنت څخه منع کړي، هغوی یې دېته اړ کړي چې باید احکام د «امامانو» د لارې واخلي، دوی په دې کې دعوا لري چې د دوی امامان ګویان قرآن دی او دغه قرآن چې د مسلمانانو سره موجود دی چوپه خوله قرآن دی، بیا له دې هم ور تیر شوي او د نبي صلی الله علیه وسلم په وفات د شریعت د توقف څخه منکر شوي، دوی دعوا لري چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل اهل بیتو ته ډیر داسې ځانګړي احکام پټ پریښي وو چې د هغه په ژوند کې ورته کوم ضرورت نه و، بیا په دغې لړۍ چې دوی خپلو امامانو ته کوم دروغ منسوبوي ټول د دوی په ګمان د نبوت د علم میراث دی چې هغوی ته پاتې دی، بیا له دې هم نور ورتیر شوي؛ دعوا لري چې د دوی امامانو ته هم وحي کیږي، ترڅو د خپلو امامانو وینا نص وګرځوي چې د الله عزوجل له خوا یې وحیې شوې وي، بیا یې دغه ویناوې په خپلو فقهي کتابونو کې د وحي په نوم ذکر کړې، په دې خاطر یې په خپل دین کې اجتهاد منع کړی او څوک چې اجتهاد کوي هغه یې له هغو طواغیتو څخه ګرځولی چې د الله تعالی عزوجل د قانون پرته په بل څه فیصلې کوي.

دوی یوازې د قرآن او سنت تشریح د خپلو امامانو په ویناو کې نه ده راګیره کړې او یا دا چې دوی د قرآن او سنت په نصوصو کې د خپل باطني دروغژن مذهب په رڼا کې تاویلات وکړي، بلکې د تحریف او تکذیب خپلې ژبې یې په قرآن او سنت مسلط کړي او د دوی په نیزد یوازې هغه څه د باور وړ او صحیح دي چې د دوی د مذهب سره سمون خوري، په دې اړه دوی په جعفر (الصادق) یوه دروغژنه وینا تړې چې وایي: «ما خالف العامة فهو الرشاد»» دوی د دغې وینا ترجمه داسې کوي چې: هر هغه څه چې د اهل السنت والجماعت مخالف وي هغه سمه لاره ده « بلکې د قرآن کریم په صداقت ګوته پورته کوي؛ دعوا یې دا ده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو د قرآن کریم آیتونه تحریف کړي او د علي رضي الله عنه او د اهل بیت امامت په اړه موجود آیتونه یې ترې حذف کړي دي، همدا ډول دوی دعوا لري چې صحابه کرامو د قرآن څخه هغه آیتونه حذف کړي چې د ابو بکر او عمر رضي الله عنهما ، بني امیه او د هر هغه چا په لعنت کې وارد وو چې د روافضو په باطل مذهب او کفري ملت نه وي، روافض خپلو امامانو ته یو داسې مصحف منصوبوي چې هغه د موجود قرآن څخه پرته بل

ځانګړی قرآن دی، نو په نتیجه کې دوی د قرآن او سنت په اړه هم د احتکار نظریه لري لکه چې دوی د خپل ځان لپاره د قرآن او سنت تاویل هم خوندي ساتلی دی او په خپله خوښه دوی احکام تاویلوي.

د اچې روافضو د خپلو اتباعو دین په خپلو امامانو پورې تړلی خو په دې یې بسنه ونکړه بلکې؛ د خپلو اتباعو دنیا یې هم په خپلو امامانو پورې د شرک العبادت له لیارې کلکه وتړله؛ هغوی ته همیشه د د خپلو امامانو څخه د فریاد او دعاء هڅونه کوي، هغوی ته د ذبح او نذر، د هغوی په قبرونو او آثارو تبرک حاصلول، ترڅو دوی ته مالونه او اولادونه ورکړي، یا یې د دوی په ګمان له مرضونو روغ کړي، دغه هر څه خپل مذهب ته د رابللو په چوکاټ او خپل ګوند سره د تړلو په چوکاټ کې ترسره کیږي.

لکه چې مخکې مونږ وویل دوی خپل دین د امامیت په بنسټ ایښودی، نو په دې کې د نورو بیلګو راوړلو ته ضرورت نه لیدل کیږي دغه بنسټ یې یوازې د رذالت لپاره لویه بیلګه کافي ده، سره د دې چې د دوی دین د دا ډول خورا زیاتو خورافاتو څخه ډک دی.

د «خدایي امامت» څخه د امام د نیابت په لور

روافض د امامت په مسئله کې د خپل دین د کڼ شمیر تغیراتو څخه هیڅ حیا نه کوي، کوم چې د دوه پیړیو په اوږدو کې ترسره شول، خو د روافضو په تاریخ کې ترټولو شرمونکی موړ هغه و چې کله د دوی یوولسم امام الحسن العسکري بن علي الهادي د دریمې پیړۍ په نیمه کې وفات شو او هیڅ ډول بچي یې پرې نښودل، نو روافضو د خپلې نظریې د بقاء په خاطر یوه درواغژنه کیسه جوړه کړې او هغه دا چې د حسن عسکري د یوې رومي وینځې څخه ځوی پیدا شو، بیا د دوی په ګمان خپلې مور دغه ماشوم د واکمنانو څخه پټ وساته چې لوی شي، بیا یې په کیسه کې لږ بدلون وکړ چې دغه کوچنی ماشوم دښمنانو ته په لاس ورغی خو هغه ترې د عراق د سامراء په یو غار کې پټ شو.

کله چې بیا د دوی د مهدي د ورکیدو نیټه اوږده شوه، په اړه یې د اتباعو پوښتنې ډیرې شوې او هغوی غوښتل چې خپل امام وګوري ترڅو ترې خپل شریعت مخامخ واخلي، نو دجالانو دعوا وکړه چې هغه د خلکو څخه پټ دی، هغوی یې نشي لیدلی، هغه یوازې عثمان بن سعید العمر لیدلی شي، عثمان هم خلکو ته یو لیک راښکاره کړ چې د هغه په ګمان د دوی د مهدي په لاس لیکل شوی و او پکې دا خبره هم وه چې عثمان د خلکو د ځوابونو اختیار لري، خلکو ته امام علم رسولی شي، او د خلکو څخه خمس هم راغونډولی شي، چې وروستی خبره یې ډیره مهمه ده کومه به چې وروسته مونږ تشریح کوو.

کله چې د دوی د دولسم امام محمد بن الحسن العسکري مرستیالان راښکاره شول نو د دوی په نیزد د امامت دوره پای ته ورسیده او د غیبوبیت دوره پیل شوه، کومې ته چې دوی الغیبة الصغری وایي، ځکه چې په دغې مرحله کې د امام نائبین موجود دي؛ د هغه پر ځای کار کوي او د رافضي طواغیتو لپاره د هغوی فاسده نظریه ساتي.

دغه د الغیبة الصغری مرحله نږدې اویا کاله وچلیده، چې په دغې مرحله کې څلور کسان پرلپسې راغلل او د امامت د نائبانو په څیر وچلیدل، لومړی یې عمري، بیا د هغه ځوی محمد چې څلویښت کال موجود بیا حسین التوبخي او بیا علي المسیري چې په دې سره دغه مرحله په کال ۳۲۹هـ کې پای ته ورسیده، په ځانګړې توګه هغه مهال چې کله دوی پوه شول چې د یو انسان د ورکیدو لپاره معقوله زمانه پای ته ورسیده او نور په خلکو د الغیبة الصغری درواغ نه چلیږي.

له دې وروسته (الغیبة الکبری) مرحله پیل شوه، چې عامو خلکو ته د دغې مرحلې په اړه د پوښتنې اجازه نشته، نه د امام د ځای او د راښکاره کیدو د مهال ویش په اړه، دغه مرحله هم د دغې ورځې نه پیل او د نن ورځې پورې چلیږي، په دې سره روافضو ۱۰۰۰ کاله بغیر له کوم ښکاره امامه تیر کړل، د دې مرحلې په اوږدو کې رافضي ملایانو د خپلو امامانو په ژبه یو شمیر احادیث درواغ وتړل، کوښښ یې دا و چې څرنګه د غیبوبیت له دغې ډرامې څخه و اوځي؟ د دې لپاره یې یو شمیر حلولات وړاندې کړل چې په ایران کې اوسنی ولایة الفقیه یې د ټولو لوړ پرمختګ دی، ځکه خو مونږ ګورو چې دوی لږیا دي دې زمانې ته د ظهور زمانه وایي، معنا دا چې د دوی مهدي به راښکاره شي او د دوی لپاره یو اسلامي عادل حکومت جوړ کړي چې په هغې کې به د آل بیت د دښمنانو یعنې اهل سنت څخه انتقام واخیستل شي او دنیا به د عدالت څخه داسې ډکه کړي لکه چې د ظلم څخه ډکه ده.

د حیرانتیا ۱۰۰۰ کاله...

د روافضو طواغیت د خپلو اعمالو په شر کې واقع شول او د «خدایي امامت» کومه لومه چې یې خلکو ته غوړولې وه په هغې کې په خپله ونښتل، دوی خپله په دې پوه شول چې هغه زنځیرونه په کومو چې مونږ خلک تړل اوس د دوی لاسو او پښو ته پریوتل، ځکه دوی مخکې خپل ټول کارونه په یو امام پورې تړلي وو، لکه تشریع، اجتهاد، د حدود قیام، جنګ، د خمس اخیستل، زکات او داسې نور، دوی به خلک له دې منع کول چې په دغو مناصبو کې هیڅ یو په غاړه وانښلي که هغه هرڅوک وي، نو په نتیجه کې دوی هم اوس له هغې استفاده نشي کولی، ځکه چې امام نشته، د هغه مرګ او بل امام ودرول نا شونی کار دی ځکه دوی د امامت درجه په دولسم درولې، همدا ډول د نیابت دعوا هم ګرانه ده، ځکه چې دعویدار یې سخت ډیر دي بله دا ده چې کوم صلاحیات او مالونه د دوی په لاس کې وي نو دوی به ډیر ژر ګمراه شي (ځکه چې په دغه موده کې د څلورو نایبانو پر ځای دیرش امامان وجود لري چې روافض یې هم نه مني، دغه ټول د امام په نوم خمس او زکات راغونډوي) نو دلته د روافضو لپاره دا ضروري وه چې یو داسې چل وکړي ترڅو د خپل دین په جوړولو کې استمرار پیدا کړي او د «خدایي امامت» نظریې ته وده وکړي.

په دې توګه د روافضو عقیده په دغې موده کې د سخت لړزان سره مخ شوه او ډیر ترې ځکه ووتل چې دغه عقیده په خپل منځ

کې سره تضاد لري، ځکه دوی خپل دین په داسې یو امام پورې تړلی چې د هغه بغیر له قصو او خرافاتو هیڅ وجود نشته، د دوی له درواغژنو طواغیتو یو تن چې دوی ورته (الصدوق) وایي، هغه د (الغیبة الکبری) د پیل په مهال د روافضو حال داسې بیانوي: « زیاتره شیعه ګان چې به ما ته راتلل نو هغوی به د امام په دغه نه شتون (غاییدو) کې ډیر شکمن و او په خپل امام کې ورته شبهه پیدا شوې وه» یو بل طاغوت النعماني وایي: « له دې به بله کومه لویه حیرانتیا وي چې ډیر زیات خلک په ډلو ډلو له دې عقیدې ووتل او ډیر کم پکې پاتې شو؟! ځکه چې خلک په شک کې دي»

توقیفیان او حرکیان

د «خدایي امامت د نظرېې» د پرمختګ په مراحلو کې تر ټولو مهم پرمختګ دا و چې دوی یوه نوې نظریه راپیدا کړه او هغه یې د «انتظار» په نوم ونوموله، بیا د دغې مرحلې په تاویل کې دوه موقفونه مخې ته راغلل: لومړی (توقیفي) له دې مردا دا و چې د امام د راتلو پورې د تقیې د سیوري لاندې ځانونه غلي کړئ، دویم (حرکي) او هغه دا چې د امام د راتلو لپاره باید مونږ حالت برابر کړو، دومره ځواک ولرو چې زمونږ واکمني وي او له دښمنانو د امام ویره ورکه شي ترڅو هغه د فیصلې کولو لپاره راښکاره شي او دین قایم شي.

هر چې (توقفي) مذهب دی نو هغوی بیا په دې اړه ډیره سختي کړې ده چې باید د «اسلامي دولت» د قیام لپاره هیڅ ډول حرکت ونکړی شي او د آل بیت د واکمنۍ د راستنیدو په نوم تحریک او اتباع پیدا نکړی شي، دوی په دې باب کې محمد الباقر ته یو وینا منسوبوي چې هغه ویلي: « د مهدي څخه مخکې چې د هر چا بیرغ پورته شو هغه طاغوت دی او د الله تعالی پرته یې عبادت کیږي او د مهدي له ظهور وړاندې چې هر بیعت قایم شو نو هغه د کفر، نفاق او د درغلیو بیعت دی».

په دغه ډول خلکو کې (اخباري) تګلاره خپره شوه، دغه تګلاره په درواغو ځان ته اهل الحدیث وایي، خپل ملایان د اجتهاد څخه منع کوي او هم خپل جاهلان د تقلید څخه منع کوي او ټولو ته یواځې د هغو اثارو د اخیستو وصیت کوي چې د دوی امامانو ته منسوب دي، په دې اړه دوی په درواغو کې له حده زیاتی کړی، هم یې په رسول الله صلی الله علیه وسلم، هم یې د هغه په آل بیت آن تردې چې په خپل مهدي یې هم درواغ تړلي، مونږ داسې ویلي شو: د روافضو په دین کې چې کوم درواغ، بدعات، خرافات، په اسلام او مسلمانانو او په قرآن کریم نیوکې دي دغه ټولې د همدې (الإخباریینو) د لاس وهنې نتیجه ده، په دې توګه الاخباریون په خپله فاسده نظریه «خدایي امامت» بس نه کړه بلکې د بشریت تاریخ یې له سره ولیکه ترڅو د دوی د باطلې نظرېې سره سمون وخوري او هم یې د مستقبل په اړه د خپلې نظرېې سره سمون خوړونکې لیکنې وکړې.

په دې بناء د (التوفیقي) نظرېې خاوندان د روافضو د ټولو دولتونو څخه سلبي نظریه لري، او د (الوصیة)و (النص)، (العصمة). (الانتظار) او نورو نظریو له مخه یې د دغو دولتونو مشروعیت رد کړی دی، ځکه دغه دولتونه د رافضي دین له مخه د شروطو سره موافقت نه لري او همدا ډول په مهدي د دوی ایمان او دا چې اوس د مهدي د انتظار مهال راغلی او دغه باچاهان باید لرې کړی شي چې د مهدي د مشکل د عذر په اساس په خلکو حکومتونه کوي، دوی وایي باید د مهدي څخه غوښتنه وشي چې نور راووځي او خپل دولت ځانته حواله کړي، اګر چې دوی وایي د مهدي د راوتلو ځانګړې علامې دي چې لا تر اوسه نه دي راغلي.

هر چې د بلې نظرېې خاوندان دي نو هغوی نور په خپل جمود او انتظار پاتې کیدل مشکل شول اګر چې د (خدایي امامت) په نظریه او د هغې په باطلو شرطونو ایمان لري، خو دوی هغه مهال د ذلت او خجالت سره مخ شي چې کله د خپلې بدعي باطلې نظرېې ضعف ته وګوري او د مقابل لوري د اعتراض ځواب ونه لري، نو ځکه دوی د انتظار د جمود څخه د وتلو لپاره خوځښت پیل کړ او په دغه کار کې یې د معتزله ګمراه ډلې عقلي منهج اختیار کړ او د هغوی د اجتهاد او مناظرې اصول یې خپل کړل، ترڅو په دې سره د روافضو طواغیت(اصولیین) د ځان لپاره په ارام سره لاره خلاصه کړي اجتهاد وکړی شي او ځان ته مقلدین او اتباع پیدا کړي، په دې لړ کې دوی د توقیفیون د نظرېې سره سم یو شمیر ساقط شوي احکام بیا جاري کړ؛ لکه د جمعې لمونځ، حسبه، جنګ، حدود نافذول او مشري، خو دغه ټول د روافضو د دین سره سم نه د اسلامي دین سره.

(د فقیه د نیابت) نظریه

دغه اصولي طواغیت بیا په دې هم وتوانیدل چې خپل ځان ته د اجتهاد دروازه خلاصه کړي، او د (خدایي امامت) قلف مات کړي؛ د کوم پر بنسټ چې پر دوی دروازه بنده وه، همدا ډول یې هغه غوټه هم خلاصه چې اخباریینو د علم په اړه تړلې وه او هغه دا چې هر هغه علم چې د انبیاؤاو امامانو پرته وي هغه ظني دي او په دې اړه یې د عمل اجازه نه ده ورکړې، لیکن اصولیانو یوه بله پلمه راوېستله چې نوم یې ورته د مهدي څخه (د فقهاؤ عام نیابت) کیښود، پدې اړه یې یو شمیر دروغژن روایتونه او مسائل هم جوړ کړل، لکه خپلو امامانو ته داسې روایت منسوبول چې دا کار روا کوي، یا دا چې مهدي د دوی څارنه کوي دوی له خطا ساتي او له بدیو یې منع کوي، او په دې اړه د معتزله و د (لطف) عقیده کاروي او وایي چې مهدي د ضرورت سره سم راوځي، د خطایانو تدارک کوي او که چیرته د فقهاؤ اجماع خطا وي نو هغه ماتوي او د یو تن په ژبه خپله وینا ښکاره کوي.

خو چې کله په زیر سره وګورو دغه د (فقیه د نیابت) نظریه اصلا هغه مهال رامنځته شوه چې کله د امام د نه موجودیت پر مهال د خمس مسألې سره دوی مخ شول، دوی د خپلو مالونو خمس امام ته ورکوي، نو کله چې هغه نه و موجود او طواغیت د خپلو نظریاتو د پراختیا لپاره د خپلو اتباعو د مال خوړلو په چل نه پوهیدل ځکه امام موجود نه و، نو دوی اجتهاد وکړ او د خمس

لپاره يې لاره خلاصه کړه، کله چې دغه لاره خلاصه شوه نو بيا په تدريج سره يو شمير نورې لارې هم خلاصې شوې، په دې اړه د دوی يو شيخ الکرکي وايي: «امانتګر فقيه چې د فتوا شرطونه پکې پوره وي هغه د امام لخوا ودرول شوی دی»

په همدې توګه د روافضو طواغيتو پيل وکړ او د خپلو امامانو پر ځای يې کار پيل کړ، د هغوی سره يې په ارام ارام ځان مشابه کول پيل کړ او د خپل ځان لپاره يې هغه څه ثابت کړل چې امامانو پورې خاص وو، لکه د قانون او تشريع جوړونه، اجتهاد، قضاء، رئاست او داسې نور، (د فقيه له نيابت) څخه يې بيا دا ګټه هم اخيسته چې په خپلو حاکمانو زور راوړي اودوی ته د اجتهاد اجازه وکړي، که داسې ونکړي نو دوی به طواغيت او مشرکين شي، د دوی دغه کار بيا د نصاراو د باباګانو سره کټ مټ يو شان شو چې د خپل ضعف پر مهال به يې د باچاهانو د حکم د مشروعيت لپاره اجازه شرط ګرځوله او داسې ګمان به يې کاوه چې دوی په دغه کار کې د عيسی عليه السلام نايبان دي.

د «فقيه د نيابت» څخه د «فقيه تر ولايته»..

کيديشي چې صفوي دولت لومړی هغه رافضي دولت وي چې طواغيت يې د مهدي په نيابت عهده کاروي، کله چې طهماسب بن إسماعيل الصفوي خپل يو ملا کرکي ته فيصله وسپارله او هغه يې په دې شرط د مهدي نايب مقرر کړ چې د بلاد فارس د بادشاهۍ لپاره هغه ته اجازه ورکړي، ترڅو په دې سره د روافضو او د صوفي باطني قزلباشي مرستندويانو زړونه ځان ته د عثمانيانو پر خلاف رامات کړي.

خو د «مهدي د نائبانو» څخه د حکامو لپاره د اجازې دغه شرط د يو قانون په توګه څکه ځای ونه نيوه چې لومړی خو د دوی بادشاهان له دې تښتيدل او دويمه دا چې د «فقيه د نيابت» مقام اصلا د اخباريينو لخوا ونه منل شو، ليکن د دې باجود رافضي طواغيت لړيا وو خپل اتباع يې په دغې نظريه زياتول، تردې چې د تاريخ په اوږدو کې يې پوره ځواک ترلاسه کړ، لکه چې د قاجاريينو په زمانه کې وشول، خو د حکامو او د رافضي طواغيتو ترمنځ د علاقې د نه ټينګښت ته په کتلو په روافضو کې يوه بله نظريه هم راپيدا او ځواکمنه شوه او هغه دا چې بايد واک د روافضو د طواغيتو په لاس کې وي او د هغوی په خوښه ترې هغه چاته حصه ورکول کيږي چې د دوی خوښ شي، رافضي ملايان به يوائې له دې څخه په ديني پلو مشري لري.

په دې توګه د هغې تنګی وروسته چې د (خدايي امامت) له نظريې او د هغې د شروطو څخه خلک په تنګ راغلي و او هم د غيبتوبيت او انتظار د نظريو څخه، خو اوس په چوپه خوله دوی په خپلو باطلو نظرياتو کې بدلونونه راولي او يا لږ تر لږه د ځان لپاره د حکومت د قيام په خاطر لارې پيدا کوي، ترڅو پرې دوی خپلې قضيې فيصله کړي، لکه د سنګرونو ساتل، د حدودو قيام، د خمس او زکات جمع او داسې نور چې تولنه ورته اړتيا لري، په دې لړ کې د دوی سره يوه بله نظريه پيدا شوه چې په هغې د دوی وروستنی طاغوتي حکومت ولاړ دی او هغه د «ولاية الفقيه» نظريه ده، چې په راتلونکو برخو کې به په همدغې بحث وشي باذن الله تعالی.

د الله عزوجل نه سوال دی، چې مونږ ته فائده من علم راکړي او بيا راته په دغه علم فائده راکړي او مونږ ته سمه لار وښايي، والحمدلله رب العالمين.

رافضي طواغيت خپلو اتباعو ته د شرک ښوونه کوي



جهاد کله فرض عين شي؟

کله چې امام (خليفه) په رعيت د جهاد غږ وکړي

الله عزوجل فرمايي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انفِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ أَرَضِيتُم بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ}. [التوبة: ٣٨]، اى مومنانو؛ په تاسې څه شوي چې کله تاسو ته وويل شي چې د الله عزوجل په لاره کې ووځئ نو تاسو ځمکې ته درانه شئ، آيا تاسو د دنيا په ژوند خوښ ياست؟ د دنيا د ژوند ګټه د آخرت په مقابل کې نه ده مګر ډېره لږه.

کله چې دښمن په دار الاسلام يرغل وکړي

إمام ابن تيمية رحمه الله په دغې حالت کې د جهاد په وجوب اجماع نقل کړې، وايي: "هر چې دفاعي جنګ دى نو هغه په ناموس او دين د يرغل کوونکي د دفاع ترټول سخت ډول دى، نو له دې امله خو په اجماع سره واجب دى، ځکه هغه يرغل دښمن چې دين او دنيا فاسدوي د ايمان څخه وروسته ترټولو اړيل واجب د هغه دفع کول وي، بيا د دې جنګ لپاره هيڅ شرط نشته بلکې هر مسلمان به يې د خپل توان سره سم کوي". [الفتاوى الكبرى]

کله چې د کفارو او مسلمانانو جنګي صفونه سره مخامخ شو نو په حاضرو مسلمانانو جهاد فرض عين دى

الله تعالى فرمايي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوهُمُ الْأَدْبَارَ * وَمَن يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ إِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ فِئَةٍ فَقَدْ بَاءَ بِغَضَبٍ مِّنَ اللَّهِ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ}. [الأنفال:١٥-١٦]، اى مومنانو؛ کله چې تاسې د کفارو سره د جنګ په ډګرکې مخ شئ نو تاسې کفارو ته مه شا کوئ* چا چې په دغې ورځ دوى ته شا کړه نو هغه د الله عزوجل په غضب ککړ شو او ځاى جهنم دي چې ډېر بد ځاى د ورتګ دى، مګر هغه څوک نه چې د جنګ چال بدلوي يا يوې بلې ډلې ته ځان رسوي.

جهاد ته له وتلو څخه د پاتې کيدونکي سزا

- الله عزوجل به دردوونکى عذاب ورکړي
- د دوى په بدله کې به بل قوم راولي
- په دنيا کې به يې سپک او ذليله کړي
- امام حق لري چې دوى ته تعذير (سزا) ورکړي

الله تعالى فرمايي: {إِلَّا تَنفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْئًا وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ}. [التوبة: ٣٩]

که تاسې جهاد ته ونه وتلئ؛ نو تاسې ته به دردناک عذاب درکړي، ستاسې په بدل کې به بل قوم راولي او تاسو الله عزوجل ته هيڅ ضرر نشئ رسولى او الله عزوجل په هرڅه قدرت لرونکى دى.



(من المؤمنين رجال)

ابو صباح المهاجر



ابو صباح تقبله الله په ختیځه آسیا کې د مجاهدینو سره یوځای شو، څوک چې وروسته د خلافت د بیعت لاندې شول

د مالیزیا یوځلمی، چې ثابت قدمه او د جهاد په لارکې صابر و، تردې چې شهادت یې ترلاسه کړ- نحسبه والله حسیبه- د خپلو ورونو ترمنځ په عاجزۍ مشهور، د شپې په تهجدو ولاړ او د ورځې روژه، همیشه قرآن لوستل، حفظ کول او پکې تدبر کول؛ دغه د جهاد په خاوره د هغه ورځنی کارو، د ورونو په مرسته کې لوی لاس، په پخلي او هر خدمت کې مخکې، مخکې، د رحمن ذات ذکر هیڅ کله نه هېرول؛ دغه د شهادت تروړځې د هغه عمل و، خایسته اخلاقو او په مسلمانانو نرمي کولو هغه د خپلو ورونو ترمنځ ډېر محبوب کړ او د کفارو سره ډېر بغض او دښمنۍ هغه د خپلو دښمنانو ترمنځ مطلوب کړ، د هغه د هوډ ځواک او په کفارو سخت زړيتوب د خپل هیواد د طاغوتي حکومت په لیکو کې رعب خپور کړ.

کله چې یې د جهاد غږ تر غوږه ورسید نو د الله عزوجل او د هغه د رسول نداء ته په لبیک ویلو په ۲۰۰۶م کې فلیپین ته ورسید او د «ابو سیاف» اسلامي تحریک ډلې سره یوځای شو، هغه مهال د دغه تنظیم مشري الشیخ القذافي جنجلاني کوله او په ملتیا ورسره د مالیزیا او اندونیزیا ورونه هم وو، ابو صباح هلته لږه موده پاتې شو او بیا خپل هیواد او خپلې سیمې «سباح» ته راستون شو، د ځان سره یې د جهاد عقیده او دا هوډ له سنګره راوړ چې په خپله سیمه کې به د جهاد جبهه خلاصوي، خو الله عزوجل ته به منظوره نه وه -هغه قادر ذات دی چې څه وغواړي هغه کوي- د مالیزیا طاغوت بندي کړ او د صبر او ثبات دغه زمری دوه کاله په پنجرو کې و، هرڅومره چې دښمنانو مکر جوړ کړ؛ د هغوش علماء سوء مکر چې د جهنم دروازو ته بلونکي او د سپیڅلي جهاد څخه منع کوونکي دي او یا د هغو بې غیرتو مکر چې د جهاد په لاره یوځل روان شول، بیا یې پرېښود او په خپلو پوندو ستانه شول، ورور صبر وکړ او ثابت قدمه و اوسید، د دښمن په تعذیب او شکنجو یې نور هم ایمان او یقین زیات شو، په زندان کې به یې خپل وخت په عبادت او د زندان له نورو ورونو څخه په علم زده کولو تېروو، یو بل ته به یې د صبر او ثبات نصیحتونه کول او همیشه به یې د الله عزوجل څخه غوښتل چې بیرته یې د مجاهدینو صف ته ستون کړي.

په کال ۲۰۰۸ م کې ابو صباح له زندانه راېهر شو، اګر چې مالیزي طاغوتي حکومت همیشه د هغه څارنه کوله او په هر ځای کې ورپسې و، لیکن ورور هیڅ کمزوري ونه ښودله او نه د مجاهدینو لیکوته له ستنیدو نا امید شو، تردې چې الله عزوجل پرې په کال ۲۰۱۱م کې یوځل بیا د فلیپین خاورې ته د هجرت احسان وکړ، کله چې مالیزي حکومت ته معلومه شوه چې ورور یو ځل بیا د فلیپین جهادي خاورې ته رسیدلی نو سخت غوصه شو او د فلیپین د صلیبي حکومت سره یې د مجاهدینو او مهاجرینو پر خلاف عملیاتو کې برخه واخیسته، د کفارو لخوا چې په مجاهدینو هرڅومره حالات سخت شول، لیکن هغوی صابره او د الله عزوجل په وعده باور لرونکي وو، دغو ټولو مشکلاتو هغوی نور هم د خپلو ورونو مینې او د کافر دښمن دښمنۍ ته وهڅول.

له اوږدې مودې جهاد، مشکلاتو او ازموینو وروسته ورونو ته



په ختیځه آسیا کې د خلافت غازیان د کفر د مقابلې لپاره روزنه اخلي

د اسلامي دولت د قیام زیری راغی او دا داسې امیدونه او خوبونه وو چې الله عزوجل مسلمانانو ته د ډیرو کړاوونو وروسته ریښتیا کړ؛ هغه خلافت چې ډیره زمانه ورک و او دغه ورور او نورو ورونوېې په فلیپین او نوره نړۍ کې انتظارکاوه، نو سمدس ورور ابوصباح د دغې کاروان سره د یوځای کیدو لپاره مخکې والی وکړ، هغه او د هغه مجاهدو؛ مهاجرو او انصارو ورونو د خلیفه المسلمین سره په کال ۲۰۱۴م کې بیعت وکړ، کله چې د فلیپین صلیبي حکومت په دغه ګروپ خبر شو؛ چې د خلافت غازیان په سیمه کې وجود لري نو د هغوی د له منځه وړلو او د اسلام د رڼا د مړه کولو لپاره یې پرې جنګ پیل کړ، لیکن ورور او د هغه ملګري ثابت قدمه، صبرکوونکي او د خلافت سره په خپل بیعت کلک ولاړوو، نه یې شاتګ کوو او نه پکې ویره وه، ورور به همیشه خپلو ورونو ته په مشکلاتو، ازموینه، د دنیا به پریښودلو او د آخرت په محبت د صبر او ثبات نصیحت کوو، الله عزوجل په هغوی خایسته ازموینه وکړه، تردې چې ځینې ورونه شهیدان شول او خپل لوظ یې د الله عزوجل سره پوره کړ او ځینې یې په انتظار دي او هیڅ ډول بدلون پکې نه دی راغلی، اګر چې صلیبیان، منافقین او کفار هر ډول پلانونه ورته جوړ دي.

ورور ابوصباح د فلیپین په خاوره په ګڼ شمیر غزاګانو کې برخه واخیسته، چې د هغې له جملې څخه؛ د جولو سولو ټاپو جګړه، د ماغویندانو سیمې جګړه او د باسیلان ټاپو جګړه شاملې وې، ورور ابوصباح به همیشه مجاهدینو ته بلنه کوله چې د یو بیرغ لاندې راجمع شي، چې هغه د خلافت بیرغ دی، په همدغه خاطرېې په کال ۲۰۱۶ کې د مالیزیا او اندونیزیا د مهاجرینو یوه کتیبه جوړه کړه او المهاجرین نوم یې پرې کیښود، دویم ځل یې د خلیفه سره بیعت وکړ، بیا دغه ټول مجاهدین د هغه عام امیر الشیخ أبو عبد الله الباسلاني حفظه الله د اطاعت لاندې راغلل چې د اسلامي دولت لخوا په سیمه کې مقرر شوی دی.

په شوال ۱۴۳۷هـ کې د باسیلان ټاپو په خاوره د الشیخ ابو عبد الله په مشری د جنود الرحمن او جنود الشیطان جګړه پیل شوه، دغه جګړه پوره یوه میاشت روانه وه، د جګړې په یوسهار ابوصباح له خوبه وختي راویښ شو، د خپل عادت سره سم د ورونو لپاره د خوراک په تیارولو مشغول شو، کله چې خوراک تیار شو، نو په غوږ یې د دوه کښتیو غږ راغی، چې کله یې وکتل نو دوه جنګي (OVI-۱۰) ډوله کښتۍ د دوی د معسکر په لور راروانې وې، خپله وسله یې په بیړه په ځان کړه او د دښمن په لور داسې ورغی لکه زمری چې د خپل ښکار په لور ځي، بیا یې تکبیر کړ او په کښتۍ یې برید پیل کړ، لیکن د الله عزوجل تقدیرو چې د کښتۍ څخه د توپ ګولۍ راغله او د ورور په خوا کې ولږیده، ورور ټپي شو، زمری په ځمکه راپریوت، کله چې ورونو ولید چې په ټپي حالت کې دی ورمنډه یې کړه چې مرسته یې وکړي، خو هغه خپل روح خپل رب ته سپارلی او د دار البقاء په لور د سفر په حال کې و، هغه دا فاني دنیا پریښوده او خپل اصل ژوند ته ولاړ ، د هغه د نکاح یوه میاشت کیده چې د جلیبب رضي الله عنه په پل یې پل کیښود او ترې روان شو، د هغه مرګ د کفارو لپاره اور او د مجاهدینو لپاره د لارې رڼا وګرځیده. والحمدلله رب العالمین.



د رمضان

د وروستی لسیزې عبادتونه

بخاري او مسلم د أم المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روايت کوي، هغه وايي: (کله چې به د رمضان وروستی لسيزه راغله نو نبي صلى الله عليه وسلم به ملا کلکه تړله(د خپل اهل نه به لرې کيده)، شپه به يې ژوندۍ ساتله او خپل اهل به يې را ويښولو). د مسلم په روايت کې دي، عائشه رضي الله عنها وايي:(رسول الله صلى الله عليه وسلم به د رمضان په وروستنو لسو کې دومره کوښښ کولو چې په نورو کې به يې داسې نه کولو).

شپه ژوندي ساتل

د شپې ژوندي ساتلو مطلب په لمانځه، تلاوت ، ذکر او داسې نور عبادت شپه تېرول.

اعتکاف

د عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به وروستی لسيزه کې تر مرګه پورې اعتکاف کولو، د هغه نه وروسته به بيا د هغه بيبيانو اعتکاف کولو.[متفق عليه].

د قرآن کريم تلاوت

دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی چې جبريل عليه السلام به د نبي صلى الله عليه وسلم سره د رمضان په هره شپه مخامخ کيده او قرآن به يې ورسره تکرارو [متفق عليه].

د ليلة القدر پلټنه کول

د عائشة رضي الله عنها نه روايت دی چې : رسول الله صلى الله عليه وسلم به د رمضان په وروستيولسو کې اعتکاف کولو،او ويل به يې : (تاسو د ليلة القدر پلټنه د رمضان په وروستی لسيزه کې کوئ) [متفق عليه].

خپل اهل رابيدارول

د علي رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي صلى الله عليه وسلم به د رمضان په ورستی لسيزه کې خپل اهل راويښاوه.
[رواه الترمذي وقال: حديث حسن صحيح].

امني او نظامي

عمليات

دا چې د کفري ځواک پر خلاف د اسلامي دولت د لښکرو جګړه دوام لري، نو پدې لړۍ کې مونږ د وروستنيو عملياتو يوه برخه راخلو؛ کومې چې د اسلامي دولت د واکمنۍ په پراخه کيدو، يا د دښمن په ويرولو، وژلو او ذليله کولو کې کامياب شوي وي، دغه عمليات د هغو ګڼ شميره عملياتو يوه کوچنۍ بيلګه ده چې اسلامي دولت په تيرو اوونيو کې د نړۍ د ختيځ او لويديځ په بيلابيلو خواو کې ترسره کړي دي:

خراسان ولايت

د شعبان په لومړۍ نيټه: د خلافت غازيانو د ننګرهار د اچين په مامند سيمه کې د امريکايي صليبي او افغاني مرتد پوځ يرغل شنډ کړ، چيرته چې د امريکايي چورلکو او الوتکو په مټ د غره صليبي ځواکونو سره سختې نښتې رامنځته شوې چې يو شمير امريکايي پوځيان پکې مردار او ژوبل شول او مرتدينو ته هم مرګ ژوبله واوښته، پاتې صليبيان او مرتدين په تيښته بريالي شول.

د شعبان په دريمه نيټه: د خراسان په شمال: جوزجان سيمه کې د وطني طالبانو سره هغه خونړۍ جګړه پای ته ورسيده چې څلور ورځې يې دوام درلود، د نښتو په پايله کې ۳۰ مرتد طالبان مړه، ۴۰ نور اسيران، ۳۰ ميله کلاشنکوف، ۴ فکاګانې، ۳ راکټې او مختلف ډوله مهمات او يو شمير عرادې غنيمت کړی شوې.

د شعبان په ځلورمه نيټه: د خلافت يو شمير غازيانو سهار وختې د ننګرهار په چپرهار سيمه کې د مرتدو طالبانو په سنګرونو يرغل پيل کړ، چيرته چې د درنو او سپکو وسلو سختې نښتې رامنځته شوې، په پايله کې لس مرتدين مردار او درې نور يې ژوندي ونيول شول او پاتې مرتدينو د تيښتې لاره خپله کړه، مجاهدينو د الله عزوجل په فضل يو شمير ماشينداري، توپونه، وسله او مهمات غنيمت کړل او د چپرهار سيمه يې فتح کړه.

د شعبان په اوومه نيټه: ورور نصرت الله (ملنګ کابلي) تقبله الله خپل بارودي موټر په کابل کې د امريکايي سفارت سره نږدې د امريکايي صليبيانو د يو قطار سره انفجار کړ، چې په ترځ کې يې ۸ امريکايي پوځيان مردار، يو شمير ټپيان، ورسره يو شمير افغاني مرتد پوځيان مردار او ټپيان شول، دوه امريکايي عرادې او يو شمير د افغان پوځ عرادې ويجاړ او زيانمنې شوې.

د شعبان په شپاړسمه نيټه: ورور ابو حنظلة خراساني -تقبله الله- د پاکستان د کويټې ښار سره نږدې خپل بارودي واسکټ د پاکستاني سنا مجلس د رئيس د معاون او پخواني پارلماني نماينده مرتد عبد الغفور حيدري په کاروان انفجار کړ، چې حيدري مرتد پکې سخت ټپي شو، د استخباراتو او پوليسو په شمول ۳۰ مرتدين مردار او ۴۰ نور ټپيان شول.

د شعبان په یوویشتمه نیټه: د خلافت دوه انغماسي غازیان (ورور ابو ابراهیم الخراساني او ابو عائشه الخراساني) تقبلهما الله په جلال اباد ښارکې د افغاني مرتد حکومت د راډیو تلویزیون په ودانی یرغل ترسره کړ، چیرته چې یې خپلې دوه بارودې موټر سایکلې لومړی د ودانی سره نږدې ځای پرځای کړې او بیا یې د افغان امنیتي ځواکونو او پولیسو په ګڼه ګونه انفجارکړې، له هغې وروسته دواړه انغماسیان ودانی ته ننول او په بشپړه توګه یې هلته موجود مرتدینو ته مرګ ژوبله واړوله، جګړه تر درې ساعتونو روانه وه چې په پایله کې تر دیرشو افغاني مرتد امنیتي ځواکونه، پولیس او د راډیو تلویزیون مرتد کارمندان مردار او ګڼ شمیر نور ټپیان شول.

ختیځه آسیا

د شعبان په دریمه نیټه: د خلافت غازیانو د فلیپین په مانیلا ښارکې د یو ماین په چاودنه کې پنځه فلیپیني صلیبي پوځیان مردار او شپږ نور ټپیان کړل.

د شعبان په لسمه نیټه: د فلیپین په مانیلا ښارکې د خلافت غازیانو د دوه ماینونو د انفجار په ترڅ کې ۵ شیعه ګان مردار او ۶ نور ټپیان کړل.

د شعبان په څوارلسمه نیټه: د خلافت غازیانو د کوتاباتو ښارپه جنوب کې په فلیپیني صلیبي پوځ ماین انفجارکړ چې یو پوځي پکې مردار او ۳ نور ټپیان شول.

د شعبان په اووه ویشتمه نیټه: د خلافت غازیانو د فلیپین د میندانااو ټاپو په ماراوي ښار کې د فلیپیني صلیبي پوځ په سنګرونو پراخه یرغل پیل کړ، چې په ترڅ کې یې د پنځه اویا نه زیات صلیبیان مردارشول، ورسره مجاهدینو د ښارپه زندان هم یرغل ترسره کړ او د سلو نه زیات مسلمان اسیران یې راخلاص کړل چې یو شمیر مجاهدین پکې هم شامل وو، د صلیبیانو یوه عبادتخانه وسوځول شوه او یو شمیر نظامي عرادې، وسله او مختلف ډوله مهمات غنیمت کړی شول، په همدغه مهال کې په جولو سولو ټاپو کې د خلافت د غازیانو په یرغل کې د څلورو ضابطانو په شمول شل صلیبي پوځیان مردار او دوه نظامي عرادې ویجاړ کړی شوې.

د شعبان په دیرشمه نیټه: د خلافت دوه غازیانو د اندونیسیا په جاکارتا ښار کې د بسونو د اډې سره نږدې د مرتدو پولیسو په پنډغالي یرغل ترسره کړ، چې ګڼ شمیر مرتدین پکې مردار او ټپیان شول.

د شعبان په دیرشمه نیټه: د خلافت غازیانو د ماراوي ښار په ښتو کې د فلیپیني صلیبي پوځ یوه زغره واله عراده ویجاړکړه.

د رمضان په شپږمه نیټه: د خلافت غازیانو په ماراوي ښارکې د فلیپیني صلیبي پوځ په سنګرونو یرغل ترسره کړ او دوه زغره والې عرادې یې غنیمت کړې، ورسره په ښارکې د ښتو په ترڅ کې څلور نور صلیبي پوځیان مردار شول، د دې ترڅنګ په ماراوي ښار د صلیبي الوتکو په خطایي بمبارکې څوارلس صلیبي پوځیان مردار شول، بل پلو ته ورور ابو الخیر الارخبیلي-تقبله الله- په مانیلا ښارکې په (ریزورتس وورلډ) ودانی استشهادي برید ترسره کړ چې لږ تر لږه پنځه دیرش صلیبیان پکې مردار او اویا نور ټپیان شول.

قوقاز ولایت

د شعبان په شپاړسمه نیټه: د خلافت غازیانو د روسیې په جنوب د انګوشیا په مالغوبیک ښارکې د مرتدو پولیسو په یو پاټک یرغل ترسره کړ.

بغداد ولایت

د شعبان په درویشتمه نیټه: ورور ابو الصحابه الفلوجي – تقبله الله- د بغداد د الدوره سیمې په ابودشیر پاټک انغماسي برید ترسره کړ، لومړی یې په خپله سپکه وسله ښتې پیل کړې او بیا یې خپل بارودي کمربند ته انفجارورکړ، ورپسې ورور ابو جلاد الجمیلي –تقبله الله- د پیښې ځای ته په راغونډو شویو

په کابل کې د کفارو په کاروان برید



رافضي مشرکينو د خپل بارودي موټر په واسطه يرغل ترسره کړ، چې د دواړو عملياتو په ترڅ کې نږدې اتيا رافضي مشرکين مردار او ټپيان شول.

د رمضان په دريمه نيټه: ورور اياد العراقي –تقبله الله- د خپل بارودي موټر په واسطه د بغداد په منځنۍ سيمه؛ الکراده کې د رافضي مشرکينو پنډغالی په نښه کړ، چې تر اويا مشرکين پکې مردار او ټپيان شول.

د رمضان په څلورمه نيټه: استشهادي ورور أبو حسن العراقي –تقبله الله- د خپل بارودي موټر سره د بغداد په منځنۍ سيمه؛ الشواکه کې د رافضي مشرکينو پنډغالی ته په رسيدو وتوانيد، د بريد په ترڅ کې لږ تر لږه دريځ پنځوس رافضيان مردار او ټپيان شول.

حماه ولايت

د شعبان په دوه ويشتمه نيټه: د خلافت يو شمير غازيانو د ولايت په ختيځ «عقارب الصافي» کلي کې د نصيري پوځ په سنگرونو يرغل ترسره کړ، چېرته چې مجاهدين کلي ته د نفوذ د عملياتو په ترڅ کې ورسيدل او مرتدين يې له هرې خوا مردار او ټپيان او په کلي يې ولکه وکړه، دفاعي قطعاتو په «المبعوجة» او«الصبورة» کليو کې مرتدين په ثقيله ماشيندارو او هاون توپونو مشغوله کړل او سلميه ښاريې هم په گراد توغندو په نښه کړ، د يرغل څخه وروسته مجاهدين خپلو سيمو ته د هغه غنيمت سره راستانه شول چې الله عزوجل يې پرې فضل کړی و، وروسته له هغې چې مرتدين يې په بشپړه توگه ودردول او د يو سل اويا نه زيات يې مردار اوټپيان کړل.

إدلب ولايت

د شعبان په پنځه ويشتمه نيټه: د خلافت يو غازي تقبله الله د ادلب په تل طوقان کلي کې د مرتدو صحواتو د هغه مرکز مخې ته لومړی خپل بارودي موټرسايکل ځای پر ځای کړ چې د مرتدينو مشران پکې راجمع شوي وو او بيا مرکز ته ننوت، خپل بارودي واسکټ او موټرسايکل ته يې په يو وار انفجار ورکړ چې د پنځوس نه زيات مرتدين پکې مردار او ټپيان شول، په مردارو کې درې لوړ رتبه قومندانان هم شامل وو.

برتانيه

د شعبان په اووه ويشتمه نيټه: دخلافت يو تن غازي د برتانيې د مانچسټر ښار په آرينا ودانۍ کې يو شمير ماينونه ځای پر ځای کړل او بيا يې د نڅا د فاحشه کنسرټ پرمهال انفجار کړل چې په ترڅ کې يې تر دېرش صليبيان مردار او اويا نور ټپيان شول.

د رمضان په اتمه نيټه: د اسلامي دولت د غازيانو يوې ډلگۍ(هر يو ورور أبو صادق البريطاني،أبو مجاهد البريطاني او أبو يوسف البريطاني تقبلهم الله) د لندن ښار په دوه ځايونو کې عمليات ترسره کړل، لومړی يې د لندن په پل کې يو شمير صليبيان په موټر وچقول او وروسته يو رسټورنټ ته ننوتل او هلته يې يو شمير صليبيان په چاکوانو ووهل چې ورپسې دوی درې واړه د شهادت لوړ مقام ته پورته شول-نحسبهم کذلک باذن الله.

صوماليه

د شعبان په اووه ويشتمه نيټه: استشهادي ورور ابو قدامه المريحاني تقبله الله د صومالې په ختيځ بوصاصو ښارکې د مرتد پوځ په يو پاټک د خپل بارودي واسکټ په واسطه بريد ترسره کړ چې اووه مرتدين پکې مردار او لس نور ټپيان شول.

مصر

د رمضان په لومړۍ نيټه: د خلافت يوې امني ډلگۍ هغه صليبيان په يو غښتلي کمين کې راگير کړل چې د المنيا ښار په لويديځ کې صموئيل کليسا ته روان وو، د کمين په ترڅ کې ۳۱ صليبيان مردار او ۲۴ نور ټپيان شول، ورسره د صليبيانو يوه عراده هم وسوځول شوه.

د مانچستر مبارکه غزا



خراسان ولايت

د خلافت د غازيانو په لاس
د صليبيانو او مرتدينو وژنې

دمحرم څخه تر شعبان پورې
۱۴۳۸هـ

۳۸۲
د پاکستاني مرتد حکومت
څخه مړه او ژوبل

۱۱۰۳
د افغان مرتد حکومت
مردار،ټپي او اسير
کارمندان

۲۳۰۰
مشرکين او مرتدين
مړه، ژوبل او اسيران

۱۱۵
د طالبانو د مرتد
تحريک څخه مړه او
ژوبل

۲۶
د صليبي امريکايي پوځ
مړه او ژوبل

۶۸۰
روافض، صوفيان او
قادياني مرتدين
مردار او ژوبل

مهم سمبوليک عمليات:

پچشنبه (19/ محرم)
د خلافت غازيانو د
جلال اباد ښار په
جنوب کې د بر پچير
سيمه د خپلې
ولکې لاندې کړه

ايکشنبه (4/ شعبان)
د ننگرهار په
چپرهار سيمه د
خلافت د غازيانو
پشپړه ولکه

دوشنبه (21/ صفر)
په کابل ښار کې د
رافضي مشرکينو
په يو پنډغالي
استشهادي بريد؛ د
۲۰۰ نه زيات مردار او
ټپيان

چهارشنبه (9/ جمادی الآخرة)
په کابل ښار کې د
افغان مرتد حکومت
په نظامي روغتون
انغماسي يرغل؛ د
۴۰۰نه زيات مردار او
ژوبل

النبأ

په ختیځه آسیا کې

د خلافت د غازیانو د امیر سره

مرکه

په ختيځه آسيا کې د خلافت د غازيانو امير د فليپيني طاغوت هغه ادعاوې په کلکه رد کړې چې ګواکې د هغه پوځ د دې توان لري چې په سيمه کې مجاهدين له منځه يوسي، محترم امير د هغو جګړو يادونه وکړه چې د اسلامي دولت غازيانو د فليپيني صليبي پوځ پرخلاف ترسره کړې دي، چې د مشرکينو د شمير او وسائلو د کثرت باوجود د موحدينو تله په دغو ټولو جنګونو کې درنه وه، ولله الحمد والمنة.

شيخ ابو عبد الله المهاجر د (روميه) مجلې سره په خپله ځانګړې مرکه کې د ختيځې آسيا د جهاد کيسه وکړه؛ چې څرنګه مجاهدين د امير المؤمنين الشيخ أبو بکر البغدادي حفظه الله بيعت ته راورسيدل او د اسلامي دولت يوه برخه وګرځيدل او هم يې د هغو فتوحاتو يادونه وکړه چې د بيعت نه وروسته د خلافت غازيانو ته الله عزوجل ور په برخه کړې.

هغه دا خبره هم ياده کړه چې د مورو د ازادۍ جبهه د صليبي حکومت په دام کې څرنګه راګيره شوه، چيرته چې ورسره صليبيانو درواغژني وعدې وکړې او دوی د دغو درواغژنو لوظونو ترلاسه کولو لپار خپله وسله په ځمکه کيښوده، امير محترم له دې هم پرده پورته کړه چې د مورو د جبهې ډيرو جنګيالو هغه مهال دغه تحريک پريښود چې کله ورته د تحريک د تګلارې کوږوالی او د مشرانو درواغ په ډاګه شول، چې ځينې جنګيالي يې د اسلامي دولت سره هم يوځای شول.

د ختيځې آسيا د مجاهدينو امير محترم د (روميه) مجلې له لارې د نړۍ په مسلمانانو غږ وکړ چې په ختيځه آسيا کې د خلافت د غازيانو د واکمنۍ سيمې ته هجرت او د خپلو ورونو سره مرسته وکړي ترڅو هلته د اسلامي دولت متې مضبوطې شي، هغه دا زيری هم ورکړ چې تر اوسه د بيلابيلو سيمو ګڼ شمير مهاجرين سيمې ته رارسيدلي او د مجاهدينو په ليکو کې دي.

(روميه) مجله تاسو ته په ختيځه آسيا کې د خلافت د غازيانو د امير الشيخ أبو عبد الله المهاجر حفظه الله سره د مرکې تفصيل په لاندې ډول رانقل کوي:

پوښتنه: السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته؛ که په ختيځه آسيا کې راته د مسلمانانو د وضعې په اړه وواياست؟

ځواب: وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته، الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على رسول الله الأمين، وعلى آله وصحبه أجمعين، ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين، أما بعد:

په ختيځه آسيا کې د مسلمانانو حال د نورې نړۍ د مسلمانانو څخه کوم لوی توپير نه لري، له دې مخکې د دوی کوم جماعت نه و چې دوی پکې راجمع شي، نه يې کوم امام و چې د دوی مشري وکړي، دوی مختلف ګوندونه، قبائل او تنظيمونه وو، بيل بيل او خواره واره وو، چې د دغې واقعيت څخه مشرکينو په ډيره لويه پيمانه ګټه اخيسته.

په سيمه کې د استعمار په توره او مرسته د نصرانيت د خپراوي سره چې تردې مهاله دغه خپراوی روان دی، د مشرکينو تر تول لويه ښکاره موخه دا وه چې په سيمه کې اسلام له منځه يوسي، هغوی په هره وسله او وسيله په مسلمانانو زور راوړ چې خپل دين بدل کړي، چې دغې کار په مسلمانانو مثبته اغيزه وکړه؛ خلک د خوب څخه را بيدار شول او د صليبي جنايتګر پوځ پر خلاف يې وسله پورته کړه، چې دغې کار مشرکين د ډير لوی سردردي سره مخ کړل، په ځانګړې توګه هغه مهال چې دوی د اسلام د منسوبينو په ټکولو او د هغوی په سرټيټولو کې ناکام شول، نو بالآخره صليبيان دېته اړ شول چې د مسلمانانو د وينو توبول ودروي او په سيمو يې يرغلونه تم کړي، بيا نو د صليبيانو ترټولو لوی ارمان دا شو چې مسلمانان د جنګ څخه لاس واخلي، ليکن چيرته به دغه کار وکړی شي؛ ځکه د صليبيانو د جنايتونو، د غدر کوونکو د غدر او دخيانتګرو د خيانت باوجود مسلمانان خپله وسله په لاس کې لري او په هر وخت کې د نصرانيانو جنګ ته تيار دي.

د موحدينو او مشرکينو ترمنځ د دښمنۍ دغې چاپيريال کې د ځوانانو يو نوی نسل راپيدا شو؛ هغوی توحيد زده کړ، ولاء او براء يې وپيژندله، هغوی د ځمکې په دغې برخه کې د الله عزوجل د حکم تطبيق خپله لويه موخه وګرځوله؛ چې د محاربو صليبيانو، بوذي بت پالو او ټولو مشرکينو لپاره د مرۍ خنډ وګرځيدل، خو په دغې فضاء کې لوی مشکل دا و چې ګوندونه زيات وو، بيرغونه مختلف وو او هغه اميران ډير وو چې خلک به يې د يوې ګمراهۍ څخه بلې ته راښکل، چې دغې ګډوډۍ مسلمانان د خپل لوی هدف څخه لرې ويستل، بلکې ډير يې هغه مهال په شرک او ردت کې واقع شول چې د اخوان المرتدين په لاره ولاړل او په ډيموکراسۍ او د مشرکينو سره په دوستۍ کې واقع شول، خو د دې هرڅه باوجود د مجاهدينو يوه ډله پاتې وه چې د هغوی حرص يواځې دا و چې په ټوله ځمکه دې يواځې د الله عزوجل حکم نافذ وي، چې همدغه ډلګۍ د هغو کسانو لومړۍ دسته وه چې د امير المومنين حفظه الله سره يې بيعت وکړ او د اسلامي دولت ليکو ته راغلل، الله عزوجل دې مونږ ټولو لپاره په دغه بيعت کې برکت واچوي.

پوښتنه: د خلافت د اعلان څخه مخکې په ختيځه آسيا کې د مجاهدينو وضعيت څنګه وو؟ او کله چې تاسو د اسلامي دولت په ليکو کې شامل شوی نو څه لاسته راوړنې مو ولرلې؟

ځواب: مخکې مونږ ووېل؛ اګر چې په ارخبيل ټاپوګانو کې د صليبيانو پرخلاف د وسلې د پورته کولو ډير ښه آثار وو، خو خلک د ګوندونو او جنګي ډلو د مرض څخه خلاص نه وو، هغه مرض چې د هميشه لپاره هرې جهادي ساحې ته رسي، چې دغه مرض په ځانګړې توګه د خلافت د راستنيدو او مسلمانان د يو مسلمان امام د مشرۍ لاندې د جمع کيدو نه مخکې په زياته کچه موجود و، په دغه شان وضع کې بيا ګمراه خلک په ډيره تيزۍ سره د پيښو نه ګټه اخلي خلک دېته اړ کوي چې د صليبيانو سره خبرې اترې او سوله وکړي او بيا د همدغو خلکو په اوګو ګمراه مشران په کافر حکومت لوړو چوکيو ته پورته شي.

د حالاتو په دغې خړ پړ چاپيريال کې به موحدينو هميشه کوښښ کاوه چې خلکو ته د اسلامي دين ښودنه وکړي او خلک



د چپې خوا نه دویم؛ په ختیځه آسیا کې د مجاهدینو امیر الشیخ ابو عبد الله المهاجر حفظه الله

به یې په ځمکه کې د دین د قیام پورې د جهادي مسیر دوام ته هڅول، خو خلک ځمکې ته درانه شول او په هغې پاتې شونو خوښ شول چې مشرکینو به ورته له خپل دسترخوانه راګذارل، بیا چې کله شمیره او وسائل کم شول، انساني مرسته کمزورې شوه، نو د ډیرو ځوانانو په زړونو د نا امیدۍ احساس خپور شو، چې متاسفانه ډیر یې د جهاد څخه کیناستل او د خپلو بچو تربیت او د رزق ترلاسه کولو ته یې مخه کړه، خو ځینې یې داسې وو چې نورو جهادي ساحو ته په دې امید ولاړل چې د الله عزوجل په ځمکه به دین قایم کړی شي.

بیا په مونږ او د ټولې نړۍ په مسلمانانو د الله عزوجل د لویو نعمتونو څخه یو دا و چې شیخ أبو بکر البغدادي -حفظه الله- د خلافت د راستنیدو اعلان وکړ، مونږ د خلافت د اعلان څخه څو ورځې وروسته د امیر المومنین بیعت ته لاس اوږد کړ، خو ددغه بیعت اعلان یو څه وخت وروسته شو، تردې چې الله عزوجل اساني راوستله، نو په دغه بیعت کې د ارخبیل په ټاپوګانو کې د جهادي مسیر لپاره ډیر لوی خیر پروت و، په ځانګړې توګه هغه ډلګې او کنډکونه چې د اسلامي دولت د بیرغ لاندې راجمع شوي دوی په سیمه کې تر ټولو د غوره تګلارې خاوندان، د واضحې عقیدې لرونکي او د مشرکینو په جنګ کې ترټولو سخت دي، په دې خبره لوی دلیل دا دی چې د خلافت غازیانو په تیرو دوه کلونو کې د فلیپیني صلیبي پوځ پر خلاف سخت جنګونه ترسره کړل، چې په هغې کې د لویو نظامي عملیاتو شنډول، په سلګونو صلیبي پوځیان مردارول او د صلیبیانو تر ولکې لاندې په یو شمیر ښارونو یرغلونه کول شامل وو، چې باذن الله عزوجل د ماراوي په ښار ولکه به د دغو یرغلونو د لړۍ وروستۍ کړۍ نه وي.

پوښتنه: اوس ستاسو د جهاد د ساحې وضع څرنګه ده؟ او په ختیځه آسیا کې مجاهدین اوس په کومو ساحو ولکه لري؟

ځواب: د مجاهدینو وضع خو الحمدلله د ښه نه ډیر ښه لورې ته روانه ده، شمیره او وسائل یې د الله عزوجل په مرسته زیاتیږي، د ختیځې آسیا د فلیپین په جنوب «مینداناو» سیمه کې د لوی رب په احسان سره اوس په ګڼ شمیر کې مجاهدین شتون لري، مونږ ته له سیمې او حتی د لیرو هیوادونو څخه په لویه کچه مهاجرین راغلي دي، والحمدلله وحده.

پوښتنه: د خلافت د اعلان څخه وروسته مجاهدینو د صلیبي حکومت پرخلاف کومې د یاد وړ جګړې ترسره کړې دي؟ او ستاسو د عملیاتو ډولونه څه دي؟

ځواب: د خلافت د اعلان څخه وروسته مونږ په سیمه کې یو شمیر جنګونه ترسره کړل؛ یواځې په «باسیلان» ټاپو کې پنځه لویې جګړې ترسره شوې چې یوې یې ۴۶ ورځې دوام درلود، په دغې جګړه کې د دښمن لخوا چورلکې، جنګي الوتکې او توپونه وکارول شول چې شپه ورځ به یې د موحدینو ساحه بمباروله، په دغې جګړه کې د دښمن تر سلو پورې پوځیان مردار او په زیاته کچه ټپیان شول.

همدا ډول په «راناو» مهمه ستراتیژي سیمه کې جګړې؛ په دغې سیمه کې د خلافت د اعلان څخه وروسته پنځه جګړې ترسره شوې چې تر ټولو مهمه یې په ۱٤۳۷ هـ کې په «بوتیج» سیمه کې ترسره شوه، مجاهدین به د شپې د چورلکو او د ورځې د جنګي الوتکو د سخت بمبار لاندې او شپه ورځ د توپو سره مخ وو، دغه حالت شپږ میاشتې روان و، د دښمن سره هر ډول وسائل وو او د مجاهدینو سره لږه اندازه وسائل او په زیاته کچه په الله عزوجل توکل او هغه ته فریاد وو، الله عزوجل په دوی احسان وکړ چې د دښمن په سلګونو پوځیان یې ووژل او الله عزوجل ورته پر هغوی کامیابي ورکړه.

په «ماجینداناو» سیمه کې د لوی الله عزوجل په ځانګړي فضل او احسان سره متکبر صلیبي دښمن ډیر وځپل شو والحمدلله رب العالمین.

په خلاصه توګه به دومره ووایم چې صلیبیانو د الله عزوجل په فضل زمونږ څخه ډیر دردونه ولیدل، د دوی سره زمونږ د ډیرو جګړو په ترڅ کې مونږ دوی وازمویل؛ دوی اګر چې ډیره شمیره او وسائل لري خو ډیر زیات بزدله خلک دي، الله عزوجل زمونږ

سره د دوی پرخلاف مرسته وکړه او دوی ډیر ودردیدل.

پوښتنه: که د مورو د ازادۍ تحریک په اړه راته ووایاست چې هغوی څرنګه د صلیبي حکومت سره تړون لاسلیک کړ؟

ځواب: د مورو د ازادۍ جبهه په اصل کې د یو شمیر مختلفو مذهبونو او افکارو او متنازعه شخصیاتو څخه جوړ یو اچار دی، چې هر یو یې ځانته اهداف لري خو په عمومي توګه په دوی باندې د اخوان المرتدین نظریه غالبه ده، ځکه خو دوی په تیرو څلورو لسیزو کې ګڼ شمیر تفرقې وزغملې، د دوی په منځ کې د صلیبي حکومت سره د تعامل پر سر د اختلافاتو سخت طوفانونه راغلل، یوې خوا یې ویل چې مسلح کار باید پیل نه شي او د صلیبي حکومت سره د خبرو اترو له لارې مسئله هواره کړی شي، بیا دغه خوا په هر هغه څه راضي کیدله چې صلیبانو ورته منله، خو د دغه تحریک بله خوا داسې خلک وو چې هغوی وسله واله مبارزه د مسلمانانو د سیمو څخه د صلیبیانو د ویستلو لپاره یواځینی وسیله ګڼله، صلیبیانو د دغو مختلفو افکارو ترمنځ د اختلاف څخه په ډیره ښه توګه ګټه واخیسته او هغې خوا ته یې ډیره لړه برخه ورکړه چې د تسلمیدو فکره یې درلوده، بیا دغې تسلیمدونکو خپله جنګیالۍ برخه په دغې لړې برخې راضي کیدو ته مجبوره کړه، بیا صلیبیان له دغو وعدو څخه هم په شا شول، چې بالآخره د مورو د ازادۍ د جبهې مشرانو ته دا خبره په ډاګه شوه چې د دوی سره په تیرو کلونو کې صلیبیانو یواځې لوبې او په دوی ملنډې وهلې دي، خو دغې احساس د قوم په واقعیت کې کوم لوی توپیر رامنځته نه کړ، ځکه دوی له جهاد څخه ناسته غوره بللې، د صلیبیانو څخه په ترلاسه کړی شویو بې ارزښته منصبونو خوښ دي، بلکې د ډیموکراسۍ د شرکي انتخاباتو په لوبه او ټاکنو ورته ګډون ډیر خوند ورکوي.

خو دغې وضعې د الله عزوجل په فضل د دغو ګمراهانو د حقیقت په بربنډولو کې ډیره مرسته وکړه، ځوانان ترې جدا شول او په جهادي تحریکونو کې یې شمولیت اختیار کړ، هغه تحریکونه چې په توحید ولاړ دي او هیڅ کله د وسلې ایښودلو ته غاړه نه ګدي او هدف یې په ځمکه کې یواځې د الله عزوجل د شریعت نفاذ دی، چې د دغو تحریکونو په سر کې هغه ډلګې او کنډکونه شامل وو چې اوس یې د اسلامي دولت سره بیعت کړی دی.



د خلافت غازیان په ماراوي ښار کې

نن ورځ د مورو د ازادۍ د تحریک حال داسې دی چې د هغوی د مختلفو افکارو مشران نن ورځ د فلیپین د صلیبي حکومت د ظلم مخې ته عاجزه ولاړ دي، د دوی سره اوس له دې پرته بل هیڅ نشته چې د صلیبانو څخه ګیله وکړي چې تاسو زمونږ سره خپلې وعدې پوره نه کړې!!! اګر چې په عین مهال کې د مورو د تحریک مشران دعوې کوي چې زمونږ سره په زرګونو جنګیالي وجود لري، خو دغو لښکرو ته ځکه دوی خوزښت نه شي ورکولی چې چیرته پرې د ترهګرۍ ټاپه ونه لري.

پوښتنه: صلیبي رسنۍ دا خبره په ډیر تکرار سره کوي چې د فلیپین ولسمشر د مجاهدینو د لمنځه وړلو وعدې او نیتې ورکوي، د دې خبرې حقیقت څه دی؟

ځواب: د فلیپین طاغوت «دوتیرتي» خپل نفس غره کړی او ګمان یې دا دی چې د الله عزوجل رڼا به په خپلو خبرو مړه کړي، الله عزوجل څه ریښتیا فرمایي: {يُرِيدُونَ أَنْ يُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَيَأْبَى اللَّهُ إِلَّا أَنْ يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ} [التوبة: ۳۲]، دوی غواړي چې د الله عزوجل رڼا په خپلو خولو مړه کړي، خو الله عزوجل انکار کوي مګر له دې خبرې چې د هغه رڼا دې پوره شي، اګر که کفار یې بد ګڼي. د دغې سیمې خلکو چې له کومې ورځې اسلام راوړی نو کفارو یوه ورځ هم بې له دې نه ده تیره کړې چې د دوی پرخلاف د جنګ لپاره پلانونه جوړ کړي، دوی به څرنګه بې جنګه پاتې شي او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: (زما د امت یوه ډله به د همیشه لپاره په حق جنګیږي، په خپل دښمن به غالبه وي، تردې چې د دوی وروستی جنګیالی د دجال پر خلاف وجنګیږي) [رواه أحمد وأبو داود]. نو آیا دغه طاغوت مجاهدین تباه او د ځمکې له مخه ورک کړل؟ که نه؛ مجاهدین هره ورځ نور هم زیاتیږي او د یوې نه بلې ورځې ته نور هم پیاوړي کیږي باذن الله عزوجل؟ په الله عزوجل قسم دوی به هیڅکله ونه توانیږي چې د

الله عزوجل ربنا مړه کړي، ځکه مونږ سره الله عزوجل وعده کړې چې د هغه ربنا به پوره او د هغه دين به غالبه کيږي، فرمايي: {هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ} [التوبة: ٣٣]، الله عزوجل هغه ذات دی چې خپل رسول صلی الله عليه وسلم يې په هدايت او حق دين راستولی دی، ترڅو يې په ټولو دينونو غالبه او برلاسی کړی اګر که مشرکين يې بدې ګڼي.

پوښتنه: آيا داسې نښې شته چې د سيمې طواغيت د خلافت د غازيانو پر خلاف په ختيځه اسيا کې په جنګ کې ښکيل دي؟ يا د سيمې او نړۍ د طواغيتو په دې اړه کوم رول شته؟

ځواب: هو؛ د سيمې او نړۍ طواغيت په دغې سيمه کې هم د مجاهدينو پر خلاف جنګ کې ښکيل دي، دوی هميشه څارنه کوي او د مجاهدينو اخبار ګوري، په ځانګړې توګه روسيه او امريکا، اګر چې دوی په عراق او شام کې هم په خپل ټول ځواک سره ښتې دي.

پوښتنه: آيا د مهاجرينو بهير تر اوسه روان دی؟ او ستاسو خواته د درتلو کومې لارې شته؟

ځواب: هو، الحمدلله، مونږ تر اوسه هر وخت مجاهدينو ته هر کلی وايو او يو شمير پر امنه لارې هم شته چې دغه مطلب ته مهاجر رسوي، خو څوک چې د هجرت اراده لري نو هغه ته زمونږ وصيت دا دی چې په دې اړه اسباب وکاروي، لکه اخلاص او الله عزوجل ته عاجزي وکړي ترڅو ورته د هجرت لاره اسانه کړي او د رباط او قتال ساحو ته يې ورسوي او د الله عزوجل رضامندي ورته حاصله شي.

پوښتنه: تاسو د ټولې نړۍ او په ځانګړي توګه د ختيځې آسيا صليبانو ته څه پيغام لرئ؟

ځواب: صليبيانو ته خو مې دا پيغام دی، دوی ته وايم؛ ای صليبيانو د بدو ورځو زيرې قبول کړئ، په ختيځه آسيا کې د خلافت غازيان په خپله لاره تر هغې روان دي چې په واشنګټن او ماسکو کې ستاسو عرشونه ولړزوي، د داسې برې زيرى درکووو چې الله رب العالمين پرې اسلام ته عزت وبښي او کفر پرې ذليله کړي، که ستاسو خوښه وي او که نا خوښه، زمونږ د امت بادشاهي به تر هغه ځايه رسيږي چې شپه او ورځ ورته رسيدلې- بإذن ربنا الرحمن- يا به تاسو اسلام راوړئ، يا به د ذلت سره جزيه ورکوئ او يا ځان تيار کړئ، مونږ ستاسو له دغو يرغلونو وروسته ان شاء الله پر تاسې پسې در روان يو، تاسې به مونږ صابره، غالبه او په تاسو برلاسي ومومئ باذن الله عزوجل.

پوښتنه: د نړۍ او سيمې موحدينو ته څه پيغام لرئ؟

ځواب: ای د نړۍ موحدينو، ستاسو دولت په هغه ډول قايم شوی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يې تاسې ته خبر درکړی، په هغه شکل راغلی چې هغه يې صفت بيان کړی، مونږ په دې کې هيڅ شک نه لرو چې دغه د نبوت په تګلاره روان خلافت دی، نو خبردار چېرته دغه خلافت ستاسو لخوا ماتې ونه خوري، چې ترڅو په تاسو کې سا وي نو له دغه دولته دفاع وکړئ، خپله سودا په الله عزوجل ارزانه خرڅه کړئ، په خپلو اعمالو کې اخلاص پيدا کړئ، ترڅو دربانديې الله عزوجل په خپلو ملائکو فخر وکړي او د انس او جن ټول شيطانان خفه شي، صليبيان په دې پوه کړئ چې د خونړو جنګونو د پيل وخت رارسيدلی، د هغوی په شرک، په ټوله نړۍ کې د بې وزلو مسلمانانو په وژنه او د هغوی په ناموسونو او مالونو لوټ کولو به د دوی سره سخت حساب کيږي، صليبيانو ته خبر ورکړئ چې زمونږ موخه واشنګټن او ماسکو دی او خبر هغه دی چې تاسو به يې وګورئ نه هغه چې تاسو يې اورئ، بإذن الله.

په ماراوي ښار کې د خلافت د غازيانو پاټک



{إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ وَالَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ} [الانفال: 36]. کافران خپل مالونه لګوي، ترڅو د الله عزوجل د لارې څخه خلک منع کړي، دوی به دغه لګښتونه کوي، بیا به پرې خفه وي او بیا ماتې هم خوري او کافران به جهنم ته راجمع کړی شي

په اسلامي دولت د صلیبانو ۱۰۰۰ ورځې بمبار

۱۵.۶
ملیار ډالر
د هوایي بریدونو د ۱۰۰۰ ورځو لګښت

۱۵.۶
ملیون ډالره د هرې ورځې لګښت دی چې صلیبیان د اسلامي دولت په جنګ لګوي

۲۸۹۸ حلب
۶۸۶ الرقة
۱۱۱۷ البركة
۱۵۸۰ الجزيرة
۲۵۹۷ نينوى
۹۵۹ الفرات
۷۲۲ صلاح الدين
۵۰۰ طرابلس
۱۸۳۰ الأنبار

۲۱,۷۶۷
هوایي بریدونه

چې ۸۰٪ سلنه یې یوازې امریکایي الوتکو ترسره کړي

د صلیبي ټلوالې الوتکو د خلافت په خاوره په مسلمانانو ترسره کړي

النبأ

د مرتدو
طالبانو
تحریک

د عراق او شام د مرتدو صحواتو په پل روان

وطنپال طالبان همیشه په دې کې ځان ستړی کوي چې د افغانستان څخه د چاپېره مشرکینو لپاره د اطمئنان څرګندونې تکرار کړي، مرتد طالبان همیشه دا اعلان کوي چې دوی د ګاونډ د هیوادونو د کفري نظامونو احترام کوي او د هغوی سره د مینې او محبت فضا غواړي، خو دې مرتدینو بې له دې بله څه ګټه ونه کړه چې دښمنان یې نور هم ځان ته زیات کړل، ځکه دغې وطنپال تحریک په خپل تیر تاریخ کې د ځیني شرعي احکامو تطبیق کړی و، مهاجرینو ته یې ځای ورکړی و او دغو مهاجرینو ته یې په خپله خاوره کې د تیاری او نوره نړی کې د کار اجازه ورکړې وه.

بیا طالبان د لوېې ماتې او شاتګ سره هغه مهال مخامخ شول چې کله یې په یو څوورځو صلیبي بمبارکې واکمني د لاسه ورکړه، د خپل امیر ځانته او بې مددګاره پرېښودو او په دغه سخت موقف کې د هغه څخه تښتیدلو د طالبانو د تحریک کړی یو له بله جدا کړې او د دوی امیرېې د مرګ څخه وړاندې په یواځې ژوند مجبوره کړ، په دې سره په تحریک کې یو بل ځواک رامنځته شو چې د پاکستاني استخباراتو په مرسته او اوامرو یې واګې په لاس کې واخیستې.

په تحریک کې دغه مرتده ډله چې په کابل د دوی واکمنی راهیسي د بهرنو اړیکو فایل د دوی په لاس کې دی او له پخوا څخه دغه مرتد ټولی د ګاونډ د مرتدو او مشرکو هیوادونو سره د مداهنت د خطاب مسولیت په غاړه لري، بیا چې له کومې ورځې واک د دوی لاس ته ولوید نو دغه ډول مداهنت او د کفارو پرخلاف نرمه لهجه کارول یې نور هم زیات کړل، اوس داسې حالت ته رسیدلي چې د کفري هیوادونو ذلیله خادمان او د هغوی د پولو او د خاورو د ساتلو سپي دي، دوی همیشه د دې خبرې پخلی کوي چې زمونږ د خاورې څخه به په مشرکینو او کفري هیوادونو یرغل ونه شي، چې دغه کاریواځې د کفري هیوادونو لخوا د دوی په مشروعیت پیژندنه، یا د دوی سره اړیکې لرل او یا دوی ته د څه مرستو ورکولو په بدل کې کوي.

کله چې اسلامي دولت اعلان شو، په نړی کې خلافت یوځل بیا راتازه شو، د مسلمانانو ټولنه بیا جوړه شوه او په ټوله ځمکه کې د الله عزوجل د شریعت لپاره هلې ځلې پیل شوې، نو د طالبانو مرتد وطنپال تحریک د صلیبي دولتونو او د مسلمانانو په خاوره د واکمنو طاغوتي حاکمانو سره ویره شریکه کړه چې چیرته توحید په سیمه او نړی کې خپور نشي، چې بیا به د شرک او مشرکانو څخه براءت فرض وي، د هغوی سره دښمني او ترهغې جنګ به فرض وي چې ټول دین د الله عزوجل لپاره شي، همدا ډول به د مسلمانانو سره دوستي واجب وي، ټول به په یوه کړی کې نخلي



په افغانستان کې د روسیې سفر ویلي: د طالبانو سره د روسیې اړیکې شتون لري، او اسلامي دولت د دواړو مشترګ دښمن دی

اودغه نا مشروعه پولې به ماتیږي چې د مسلمانانو د ویشلو لپاره جوړې شوې دي، هم به دغه تنظیمونه او ګوندونه منحل کیږي چې مسلمانان یې دربدر او ټوټې ټوټې کړي.

نو ځکه خو د اسلامي دولت سره جنګ د مرتدو طالبانو او هغو کفري هیوادونو ترمنځ یوه ګډه پروجه شوه چې په خپلو پولو ویره احساسوي، لکه څرنګه چې د افغانستان اشغالوونکې امریکا هم په ویره کې ده.

اوس نو د اسلامي دولت سره جنګ د مرتدو طالبانو هغه غوره او قیمتي سودا ده چې د سیمې او نړۍ هیوادونه یې په ډیره لوړه بیه ترلاسه کول غواړي، اګر چې د ذلیلو او مرتدو طالبانو مطلب ترې د دوی سره د کفارو د اړیکو دروازه خلاصول، د سیاسي مرستو تامینول او ممکن چې مالي او د وسلې مرستې هم پکې وي.

ځکه خو کومه د تعجب خبره نه ده چې صلیبي روسان د طالبانو سره خپلې پراخه اړیکې په دې لامل روا وبلي چې مونږ ورسره د اسلامي دولت پرخلاف مرسته کوو، روسان ویره ښکاره کوي که د اسلامي دولت ځواکونه په منځنۍ آسیا هیوادونو کې خپاره شي نو زمونږ تشې به د هغوی هدف وي، روس دا څرګندونې هم کوي چې په خراسان ولایت کې د خلافت د غازیانو پرخلاف مونږ د مخامخ جنګ لپاره راتګ ته تیاریو.

روسیې ته بې شکه دا خبره ډیره مهمه ده چې د خپلو پولو او په منځنۍ آسیا کې د خپل نفوذ له سیمې څخه امریکا لرې باسي، خو دغه کار په داسې حال کې کول نه غواړي چې امریکا ولاړه شي او اسلامي دولت د هغې ځای ونیسي، د روس دغه هدف د چین او ایران سره هم ګډ دی، ځکه خو روس هلې ځلې کوي چې د امریکا د وتلو په صورت کې رامنځته کیدونکی خالي ځای ډک کړي، که دغه ډکون په خپل مخامخ وجود وي چې ډیر قیمتي او په دې وضع کې د روس لپاره ناشونی دی او یا د خراسان سیمه یوه د نه جنګ سیمه وګرځوي او د روس حلیفان په کې واکمن شي، ترڅو د روس لپاره د خطر په سیمه د روسیې دښمنان یرغل ونه کړي، چې په دې صورت کې د طالبانو مرتد وطني تحریک تر ټولو مناسب ګډون وال او حلیف دی، ځکه د دې مرتد تحریک اهداف یوازې په افغاني وطن رابند دي او ورسره خپل قبائلي او مذهبي تعصب هم د دوی واګې نیولې دي، همدا ډول د دې تحریک د ایران سره ډیرې غښتلې اړیکې دي کوم چې په دې ورځو کې د روس نږدې حلیف دی.

دغه مرتد تحریک چې د صلیبي او طاغوتي هیوادونو په نمایندګۍ د اسلامي دولت جنګ ته راوړاندې شوی؛ داسې انځور تکراروي چې له دې مخکې اسلام ته په دروا‌غو منسوبو تنظیمونو رسم کړی و؛ لکه د عراق صحواتي ډلې او یا په شام او لیبیا کې د هغوی صحواتي ورونه، د کومو سره چې د طالبانو د مرتد تحریک بیعت کوونکې القاعده حلیفه ده.

اګر چې په دغه مرتد تحریک ډیر خلک دوکه شوی خو -باذن الله تعالی- انجام به یې د هغو مرتدو صحواتو څخه توپیر ونه لري چې په عراق او شام کې وو، بیا به د دوی حلیفان هغه مهال د دوی د لرې کولو او د نوي حلیف په لټه کې شي چې کله وګوري چې د طالبانو مرتد تحریک د خلافت د غازیانو مخې ته کوم ځواکمن خنډ نه دی -باذن الله-، بیا د خلافت یرغلیزه دستې د دغو کفارو تر دهلیزونو ورسي او په خپلو کورونو کې یې ووهي، بلکې دغو هیوادونو ته به دا هم په ډاګه شي چې طالبان د خپل ځان د ساتلو ځواک هم نه لري، چې بیا به طالبان د خپل خوندیتوب په لټه کې وي -باذن الله تعالی.

نو په خراسان کې د خلافت غازیان دې هغه جنګ ته دوام ورکړي چې د صلیبیانو او مرتدینو پر خلاف یې پیل کړی دی او د خپل همیشه عادت سره سم دې د ښمن ډیر ودردوي، د خلافت غازیان دې په خپلو وینا او کارونو د الله عزوجل مرسته وکړي، په دوی دې انسي او جني شیطانان غالبه نه شي، اګر که ټول سره ملګري ولې نه وي، (وما النصر الا من عند الله العزیز الحکیم).

د رمضان دمیاشتي فضائل

په دې کې قرآن نازل شوی

الله عزوجل فرمايي: {شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ}. [البقرة: 185]، د رمضان میاشت؛ هغه ده چې قرآن پکې نازل شوی، چې د خلکو لپاره لارښونه او پکې د هدايت او حق باطل ترمنځ جدايي راوستونکي واضح دلائل دي.

د جنت دروازې پکې خلاصیږي، د جهنم دروازې پکې بندیږي او شیطانان پکې تړل کیږي

د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايي: (کله چې رمضان راشي، د جنت ټولې دروازې خلاصې شي، د جهنم ټولې دروازې بندې شي او شيطانانو وتړل شي).

په دې کې یوه شپه ده چې له زرو میاشتو غوره ده

د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايي: (چاچې د ليلة القدر د شپې تهجد د ايمان له مخه او د ثواب په نيت وکړل نو مخکني ټول ګناهونه به ورته معاف شي). [متفق عليه]

د رمضان په شپو کې د تهجدو ثواب

د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايي: (چا چې د رمضان په مياشت کې تهجد د ايمان له مخې او د ثواب په نيت وکړل، مخکني ټول ګناهونه به ورته معاف شي). [متفق عليه]

د روژې فضائل

روژې ته د بني آدم حصه نه داخلیږي او په اجر یې یواځې یو الله عزوجل پوه دی

د ابو صالح الزيات څخه روايت دی، وايي د ابو هريره رضي الله عنه نه مې اوريدلي، ويل يې: رسول الله ﷺ فرمايي: (الله عزوجل فرمايي: د بني آدم ټول عملونه د هغه لپاره دی، مګر روژه داسې نه ده، ځکه هغه زما لپاره ده او زه به پرې بدله ورکوم) [متفق عليه]

د روژه دار لپاره په جنت کې ځانګړې دروازه ده چې الریان نومیږي

د سهل رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي ﷺ فرمايلي: (په جنت کې یوه دروازه ده چې الريان نوميږي، په هغې به د قيامت په ورځ جنت ته يواځې روژه دارننوځي، چې له دوی پرته به بل څوک په دغې دروازه داخل نه شي، غږ به وشي: روژه داران چيرته دي؟ نو دوی به پاڅي، کله چې ننوځي نو دروازه به بنده شي چې بيا به په دغې دروازه بل څوک داخل نه شي). [متفق عليه]

ډېر ژر
ان شاء الله

د رمضان

د وروستۍ لسیزې عبادات

درمضان د وروستۍ لسیزې

عبادات

خپل وخت د خپل رب په عبادت، له هغه سره په یواځیتوب، د هغه په ذکر او له هغه څخه په غوښتلو مصروف کړي.

٥. د لیلة القدر پلټنه:

د نبي ﷺ وینا ده چې:(لیلة القدر د رمضان په وروستیو لسو شپو کې و لټوئ) [متفق علیه]، او د نبي ﷺ دغه وینا:(چا چې د لیلة القدر قیام (تهجد،تراویح) د ایمان په خاطر، د ثواب په نیت وکړ نو مخکني ګناهونه به ورته وبښل شي.

لیلة القدر د الله په وړاندې ډیر لوی فضیلت لري، او په دې شپه کې د عبادت ثواب د زرو میاشتو د عبادت څخه بهتر دی.

٦. د قرآن کریم تلاوت:

په دې میاشت کې د الله د کتاب د تلاوت لویه مرتبه ده، الله تعالی فرمایي:(شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِیٓ أُنزِلَ فِیهِ ٱلۡقُرۡءَانُ) [البقرة:١٨٥]

ژباړه: رمضان هغه میاشت ده چې په هغې کې قرآن نازل کړای شوی.

له همدې امله به(رسول الله ﷺ د روژې په هره شپه کې پدې حرص کاوه چې د جبرائیل علیه السلام سره د قرآنکریم دور

٤

وکړي)[متفق علیه]

د رمضان په وروستۍ لسیزه کې د قرآنکریم د تلاوت په ځانګړې ډول تاکید شوی، سلف الصالحین چونکې د قرآن کریم د تلاوت په فضیلت پوه وو نو هغوی به پدې میاشت د قرآن کریم په تلاوت ډیر حرص کولو او په وروستۍ لسیزه کې خو به یې حرص نور هم زیات شو.[لطائف المعارف لابن رجب]

پایله:

مسلمانه وروره! دا چې د رمضان وروستۍ لسیزې ته په شمار ورځې پاتې دي، نو باید د زیار او کوښښ ملا وتړو، په الله قسم دا د هغه چا لپاره لوی نعمت دی چې ښه عبادت پکې وکړي، دا یو لوی فرصت دی، چا چې له لاسه ورکړ، زیان یې وکړ او هلاک شو، او دا په ټول کال کې بهترینې ورځې دي، لکه چې علماؤ دغه خبره واضحه کړې.

یا الله! موږ د رمضان وروستۍ لسیزې ته په خیر ورسوه او خایسته عبادت راته پکې اسانه او په نصیب کړه کړه.
وصل اللهم وسلم علی نبینا محمد وعلی آله وصحبه وسلم

٥

مکتبة
الهمّة

الهمه کتابتون

د عمـران بـن حصيـن﵁ څخـه روايـت دی، وايـي: رسـول اللـه ﷺ فرمايـلي: « زما د امـت يوه ډله به هميشـه په حق جنگيږي؛ په خپلو مخالفينو به برلاسې وي، ترديې چې د دوی وروستی جنگيالی د مسيح دجال پر خلاف وجنگيږي»

[سنن ابو داود او مسند احمد]

